## سرخبرې

د لوی څښتن تعالی په نامه ، چې ما ته یې دا توان په نصیب کړ، تر څو وتوانېږم یوه رساله ولیکم. زه د الله او محمد رسول الله څخه ډېره ډېره مننه کوم، چې په دې ناتوان بدن سره د علم او پوهې سمبالښت یې راکړ.

ما ته پښتو څانګې د استادانو له خوا د ( دولت لواني په اشعارو کې تجنیس) موضوع راوسپارل شوه. د څو میاشتو په بهیر کې ما د پښتو څانګې د لوړ رتبه استادانو په مشوره د ښار د علمي کتابتونونو څخه په ګټه اخیستنه مې خپله موضوع بشپړه کړه. په دې اثر کې مې هڅه کړې ده، چې د نویو منابعو او سرچینو څخه ګټه واخلم. ترڅو چې په راتلونکي کې کوم څوک ددې موضوع په اړوند څېړنه کوي؛ د یو ښه او بکر ماخذ په ډول ورنه استفاده وشي. کله چې ما موضوع غوره کړه ماته د تجنیس پیدا کول ډېر ساده او آسانه ښکارېدل؛ خو کله چې ما په کار پیل وکړ، د ماخذونو نشتون او خپله داشعارو تجزیه او پرتلنه واقعاً ډېر مشکل او ګران کار وو. وایي چې: د کار پیل ډېر ستونزمن وي ؛خو دا موضوع ماته تر پایه مشکله وه؛ ځکه چې دولت د پښتوادب منځنی دورې ستر مخکښ شاعر دی. د هغه د شعرونو څېړنه ډېر دقت او غورغواړي. له ډېرو هلو ځلو ،سخت کار او استادانو ، قلم خاوندانو په مرسته مې دا دی په خیرکار ختم کړ. خدای(ج) دې وکړي، چې د مینه والو ادبي تنده پرې ماته شي.

پاتې دې نه وي، چې په دې برخه کې د پښتو څانګې استادانو راسره حضورا ډېره مرسته کړې ده ؛خو لارښود استاد محمدحنیف " صافی"را سره په هره برخه کې په ورین تندي د ستونزو په حل کې همکاري کړې، له ټولو څخه مننه کوم او خدای (ج) له درباره ټولو ته روغ صحت او خوشحال ژوند غواړم. تل یې په دعاووکې یادوم.

په درنښت

شیما

## لنډیز

د پښتانه شعرا په لومړي ټوک کې د دولت د ذوکړې وخت د زرم هجري کال شاوخوا اټکل شوی دی؛ څکه چې له یوې خوا دولت پخپلو اشعاروکې ځان د پیر روښان (۹۸۰هـ ق مړ)مرید څرګندکړی دی او له بلې خوا د دولت په نامه د پیر روښان یو خلیفه هم شته او سربېره پر دې د بایزید روښان په (۵۵مخ) او د روښانیان په (۹۲مخ)کې دغه خلیفه دولت او دولت لوانی شاعر یو بلل شوي دي؛نو ماته دا اټکل لږ څه د څېړنې وړښکاري په دې ډول:

دولت لوانی د دادو زوی د هغو روښانیانو په ډله کې ولاړ سړی دی،چې هند ته تللی دی او هورې ژوند کړی دی. دولت په رشید اباد او دکن کې اوسېدلی دی، دی په د دکن په هغه جنګ کې شامل و،چې میرزاخان روښاني په وژل شوی و. دولت هم په دې جنګ کې زخمي شوی و.

دولت لوانی روښاني لارې زده کړې له میرزخان روښاني څخه کړې وې او د معرفت په انوارو بې زړه د میرزا په وسیله روښان شوی و. د روښاني لارې تبلیغ په لاره کې د خلیفه درجې ته رسېدلی و . دولت د دېوان خاوند شاعر دی په پښتو ژبه یو پنډ دېوان ځینې پاتې دي،چې په دوو دفترونو کې تنظیم شوی دی، ده په دېوان کې غزل،قصیده ،رباعي ،مثنوي، مربع او پیدا کېږي. الفنامه یې هم جوړه کړې ده.او دروښاني عرفان د تشریح او بیان تر څنګه اخلاقي، دیني مسایل، پندونه،معجزات مرثیې او نور مضامین هم د ده په دېوان کې پیدا کېږي.



**کلیدي لغتونه:** دولت لوانی، اشعار، تجنیس.

# لړلیک

**سرلیک.................................................................................................مخګڼه**

## لومړی څپرکی

### د څېړنې کلیات


سریزه:.............................................................................................. ۱

د مسئلې بیان:..................................................................................... ۲

د څېړنې موخې:.................................................................................... ۲

د موضوع اړتیا او اهمیت:......................................................................... ۳

دڅېړنې موخې: .................................................................................... ٤

دڅېړنې پوښتنې:................................................................................... ٤

عمومي پوښتنې:.................................................................................... ٤

فرعي پوښتنې :..................................................................................... ٤

دڅېړنې فرضیات:................................................................................... ٥

اصلي فرضیه: ...................................................................................... ٥

فرعي فرضیه:....................................................................................... ٥

څېړنیز بدلونونه:.................................................................................... ٥

د څېړنې مخینه:..................................................................................... ٦

د څېړنې لاره: ...................................................................................... ٦

د څېړنې مواد:...................................................................................... ۷

د څېړنې محدودیتونه: ............................................................................ ۷

د څېړنې جوړښت:.................................................................................. ۸

## دويم څپرکی

## د دولت لوانې ژوندليک


دولت لوانی د شاعرانو په شعرونو کې ........................................ ۱۳

د دولت لواني مذهبي عقيده او شخصيت ........................................ ۱٤

د دولت د اشعارو ځانګړتياوې ........................................ ۱۷

د دولت ديوان ........................................ ۲۲


## درېيم څپرکی

## د دولت لوانې په اشعارو کې تجنيس


د دولت لوانې په اشعارو کې تجنيس ........................................ ۲۳

د بديع د نوم ايښودنې وجه ........................................ ۲۵

د بديع علم ارزښت ........................................ ۲۷

تجنيس ........................................ ۳۱

۱. تام تجنيس ........................................ ۳۱

۲- ناقص تجنيس: ........................................ ۳۵

۳- زايد تجنيس: ........................................ ۳٦

۴- مرکب تجنيس: ........................................ ۳۹

۷- خطي تجنيس: ........................................ ٤۹

پايله ........................................ ۵۱

وړانديزونه ........................................ ۵۳

اخځليک ........................................ ۵٤

## د څېړنې کليات

## لومړی څپرکی

### سريـزه :

د پښتو ادب د مينوالوپه زړه کې تر بل هر شاعر د پښتو ادب د وتلي، اوڅار او زبردست شاعر  دولت لوانی ياد او نوم ډېر تازه دی. هغه د خپلې ژبې او فرهنګ د بډاينې لپاره تر خپلې وسې کار وکړ او د پښتو ژبې د نظم د پرمختګ، مقبوليت او ښکلا لپاره يې په دواړو برخو (نظم او شعر) کې داسې قېمتي دانې پرېښودې، چې پښتانه ليکوال لا څه چې غربي نړۍ هم ورته ګوته په غاښ پاتې دي. د ده ژوند له عجيبو او غريبو پېښو سره مل دی، چې هره يوه يې له مرګونې پېښې څخه کمه نه ده. دلته مو د ده د ژوند او ژوند پېښو څخه علاوه د ده پر ادبي چوپړ او نبوغ هم رڼا اچولې ده او هغه څه چې زموږ د دغې ليکنې اصلي موضوع جوړوي، هغه د لواني په اشعارو کې د خدای نومونو ذکر کول دي.

د دولت لواني د ادبي او سياسي ژوند تر څنګ د ده کورنی او سيميز اړودوړ بيا هغه بله لويه ستونزه وه، چې تر ډېره يې په خپلو اشعاروکې ورته اشاره هم کړې ده او د اصلاح لپاره يې لازمې لارښوونې هم کړې دي؛ خو له بده مرغه، چې دا ستونزه لا پسې قوي شوه او د مغلي حکومت په پوره همکارۍ سره د دغې ادبي کورنۍ د روحي او جسمي نا ارامتيا لامل وګرځېده. له له روښان  سره د مخالف لړۍ د ده تر خپلې لمنې را ورسېده او په خپل کور کې يې د دوی لپاره اخون درويزه په مرسته د هغه د سياسي ضعف او روحي پرېشانۍ لپاره پوره کار واخيست، چې په وروستو کې يې په خپله سره د مخامخ جګړې هڅه وکړه او زياتو  د مرګ تر پولې وزوراوه.

دولت لواني د خپل ستړي او هڅاند ژوند په اوږدو کې دومره ستر ارزښت پښتني ادب ته پرېښود، چې دغه ادبيات او پښتني ټبر به يې تر پايه مرهون وي. د ده کليات چې له نېکه مرغه موږ يې په لاس کې لرو، د ټولنيز ژوند له هرې زاويې سره اړخ لګوي او په خورا ښه ډول يې د تنظيمولو لپاره له لوستونکو سره مرسته کوي. د دولت کليات د پښتو ادب له ارزښتناکو آثارو

څخه دی، چې په لیدلو یې د هر پښتون، په ځانګړې توګه د هر ادیب او لیکوال سترګې رڼېږي.
په دغه لیکنه کې مو د دولت د کلیات پانې را اړولې دي او هغه څه چې زموږ موضوع جوړوي پکې مو پلټلې ده، هیله ده چې لوستونکي پوره ګټه ترې پورته کړي.

**د مسئلې بیان:**

څرنګه چې څېړنه یا تحقیق د حقایقو د کشف لپاره یوه اړینه مسئله ده. نو پښتو ژبه هم یوه لرغونې ژبه ده ،داهم غواړي،چې د نوي نسل په مټو باید خپلې پوهنیزې لوړتیا ته ورسیږي؛ خو ددې لپاره په کار ده ،چې د نورو زده کړو ترڅنګ نوی او ځوان نسل په پښتو لیکل وکړي. او د وخت د غوښتنو سره یې سمه بدایه کړي. که څه هم په بلخ کې ګڼو کسانو په پښتو لیکل کړي دي خو بیا هم د پښتو ژبې لیکوالان او آثار کم دي. هغه آثار چې لري هغه هم یا له منځه تلي او ورک شوي دي، او یا خواره ، واره په بیلابیلو ځایونو کې پراته دي چې هیڅ ترینه استفاده نشي کیدای . مانا داچې دغه مسئله یوې بشپړې څېړنې ، راټولولو او انسجام ته ضرورت لري. دا کارکه له یوه اړخه یو مثبت پرمختګ دی، او له بله اړخه د دغه لیکنو او ارزښتمنو آثارو څخه نور په تیره راتلونکو نسلونه ښه ګټه پورته کولای شي. دا یوه جوته خبره ده . چې هره څېړنه د یو ې اړتیا او ستونزې له کبله بنه نیسي.

**د څېړنې موخې:**

په هره علمي او ادبي موضوع کې د حقایقو کشف د څېړونکي هدف جوړوي. هرکله چې، یو څېرونکی موضوع ټاکي نو، د امکان تر حده یې څېړي او هدف ته ځان رسوي. لومړنی هدف مې ددې څېړنې په بشپړلو کې د لیسانس د رسالې څخه دفاع کول دي. ځکه د لیسانس دورې په پای

ته رسولو سره هر محصل مکلف دی، چې مونوګراف ولیکي. د همدې اړتیا له مخې ما خپل په مونو ګراف کې (د دولت لواني په اشعارو کې تجنیس)ترعنوان لاندې ولیکه. په دوهم ګام کې غواړم د په معنوي ښکلا په ګوته کړم. ترڅو چې، نورو ته د موادو په موندلو کې یو څه ستونزه اواره شي. په دغې تاریخ کې نه یوازې په پښتو ژبه پورې اړوند علمي او ادبي مسئلې خپرېدې، بلکې، د ټولو ښوونځیو، موسسو، شاعرانواو لیکوالانو، ویاړونه یې هم خوندي کړي وو.

پاتې دې نه وي چې، په افغانستان کې نه یوازې د پخوانیو وتلې، ښکلاوې،کلمات لیکنې او مضمونونه خوندي دي. بلکې، ډیرشمیر زلمي لیکوال او شاعران یې هم روزلي دي. په حقیقت کې یې دخپلې خپریداپر مهال یو فکري، علمي او ادبي انقلاب هم رهبري کړی دی. په زرینو پاڼو کې یې د لنډو او اوږدو خپرونو نه نیولې آن تر تخلیق، تصنیف، تألیف، علمي، ادبي، تاریخي او معلوماتي مطالبو د چاپ توفیق موندلی دی. په دغو مطالبو کې نه یوازې د خپل وخت بلکې ، د راتلوونکي پښت علمي تنده هم پرې ماته شوې ده. او اوس هم دغه تنده په پوره ډول خړوبولای شي.

اصلي موخه: د دولت لواني په اشعارو کې تجنیس پراختیا ، لیکوال، شاعر، هلې ځلې.

فرعي موخه: د دوی اثار چاپ شوي او منظوم او نثري ډولونو باندې پوهېدل.

**د موضوع اړتیا او اهمیت:**

په پښتو ادب کې ډېر ادبي مکتبونه دي او ډېر شاعران په دا ادبي مکتبونو کې زده کړې کړي دي د دولت لواني یو ادبي خدمت دا دی چې په پښتو ادب کې ځانته یو مکتب ایجاد کړی دی او په دې مکتب کې ډېر شاعران او لیکولان یې روزلي دي، چې دوی بیا په زرګونو آثار او کتابونه ددې ژبې په بیلا بیلو اړخونو باندې لیکلي دي. دولت لواني د خپل ادبي مکتب یو تکړه

شاعر او بنسټ ايښودونکی دی، چې ډېر کتابونه او آثار يې ليکلي دي ، نوځکه په داموضوع چې (د دولت لواني په اشعارو کې تجنيس) ده څېړنه مهم بولم او اړتيا يې داده چې ددې معلوماتو په لړلو سره يو محصل کولای شي د دولت لواني په اشعارو کې تجنيس باندې معلومات لاسته راوړي.

**دڅېړنې موخې:**

❖ په دغه څېړنه کې لاندې موخې په نظر کې نيول شوې دي:

١: د لرغونی دورې د يو نامتو شاعر ( دولت لواني) له ژوند څخه خبريدل .

٢: د (دولت لواني) له شعري مفکورې څخه خبريدل .

**دڅېړنې پوښتنې:**

١- اصلي پوښتنه: د دولت لواني په اشعارو کې تجنيس په اړه معلومات څومره مهم دي ؟

**عمومي پوښتنې:**

١- د دولت لواني له ژوند څخه خبريدل څومره موږ ته موثر وي؟

٢- د دولت لواني ديوان او شاعري څومره موږ دده له افکاره خبروي ؟

٢-کليدي پوښتنه : د دولت لواني ژوند او علمي هڅې څومره زموږ علمي کچه لوړوي؟

**فرعي پوښتنې :**

١- د دولت لواني علمي هڅې موږ ته په کومه برخه کې معلومات راکوي ؟

۲- دولت لواني علمي هڅې، دده افکار او ليکنې سبک یې څومره زموږ معلومات ډېروي ؟

**دڅېړنې فرضيات:**

په پښتو ادب کې ډېر شاعران او ليکوال شتون لري؛ خو موږ فرضيات دلته ادب او پښتو ژبې شاعر دولت لواني دی، چې اوس يې ترڅېړنې لاندې نيسو.

**اصلي فرضيه:**

۱.د منځنی دورې د نامتو شاعر (دولت لواني) له ژوند څخه خبريدل .

**فرعي فرضيه:**

۲.د (دولت لواني) له شعري مفکورې څخه خبريدل.

**څېړنيز بدلونونه:**

د څېړنې بنسټيز مقصد د حقيقت پلټل او ثابتول دي، که څه هم د انسان د ژوندانه ډېر حقايق خلکو ته څرګند دي. خو د علم او ادب په برخه کې بيا ډېر داسې موضوعات شته چې، لا څېړنې او پلټنې ته اړتيا لري.

خپلواک بدلون: د دولت لواني د ادبياتو تاريخ کې لوی ځان لري، چې موږ کولای شو د ادب تاريخ او همدارنګه تذکرو څخه دا ادب وپېژنو.

ناخپلواک بدلون: د دولت لواني له نا چاپو آثارو څخه قلمي ( ديوان)  چې د کابل ښار د دريو ورستيو لسيزو د خو نړيو جنګونو، لوټمار تالان څخه خوندې پاتې شوي دي، چې نوې کتنه هم چاپ ته چمتو کړو.

**د څېړنې مخينه:**

د دولت لواني په هکله مې معلومات راغونډ کړل . د ده دېوان کې مې ډېر ښه ښه صنعتونه، تشبېه ګانې او  دده خدمتګار شخصيت او علميت ډېر لوړ دي. په يو کوچنی رساله او په لږ وخت کې بيانولو امکان نه لري. بله داچې ما او پښتو ادب کې د شاعران بيانول هم ساده کار نه و.

**د څېړنې لاره:**

تحقيق او څېړنه درې ډولونه لري، کتابتوني، ساحوي، لابراتواري. زما دغه رساله د کتابتوني څېړنې په اړانه بانې اړونديږي. کتابتوني څېړنه هغه څېړنه ده، چې د کتابتون په محدوده فضا کې د کتابونو، سندونو، منابعو، مجلو، اخبارونو، ورځپاڼو او نظرياتو له مخې په تحريري سرچينو او منابع باندې ترسره  کيږي .د کتابتون په څېړنه کې محقق د چاپي او قلمي اسنادو څخه ترلاسه شوي اطلاعات او معلومات تحليل، تفسير، توضيح او پرتله کوي، د دې څېړنې څخه په دوه ډول ګټه پورته کيږي: مستقيم نقل قول، او غير مستقيم نقل قول.دا هم بايد له ياده ونه باسو چې په دې څېړنه کې د مختلط يا ګډ روش څخه استفاده شوې ده. دا يوه کتابتوني څېړنه ده، ددې اثر د ليکلو لپاره مې د بحث سرليک په جوړولو او د موادو په راټولولو

کې له لاربښود استاد او ځنې نورو مشرانو استادانو سره مشوره وکړه. د مزارشریف ښار شخصي کتابخانې هم ولټولې، چې بالاخره د الله په مرسته یو ښه مفید اثر جوړ شو.

**د څېړنې مواد:**

په دې رساله کې مې د افغانستان چاپي او ناچاپو کتابونو څخه مې کار اخېستلی دی. د څو کتابونو او ځینې نور تحلیلو څخه مې ګټه پورته کړې ده.د زیور الدین زیور کتاب ادبیاتو تاریخ، روهي صاحب ادبتاریخ، د دولت لواني دیوان په نامه کتاب، د همېش خلیل کتابونو د یونس دېوان ، د خادم شعري کتاب څخه مې ، د رحمان بابا کلیاتو څخه، د رښتین ادبتاریخ څخه او داسې نورو موادو او توکو څخه مې څېړنه سرته رسولې ده.

**د څېړنې محدودیتونه:**

اوس وخت په افغانستان کې څېړنه کول اسانه کار نه دی؛ ځکه چې زموږ ټولنه تر اوسه پورې علمي کچې ته نه ده رسېدلې او که رسېدلې وي هغه هم لږ کسان به په کې پیدا شي. ما ته هم په دې مونوګراف کې د لیکلو په وخت کې ځینې ستونزې او محدودیتونه رامنځ ته شول. لومړی دا چې ما ته د اخځلیکونو پیدا کولو کې ډېرو ستونزو سره مخامخه شوم. دویم داچې کور ما ته اجازه نه راکوله ، چې کتابتونو ته لاړه شم او خپله موضوع وڅېړم. زه دا ویل غواړم اوس وخت کې د اسانتیاو څخه محدویتونه او ستونزې په ځانګړي توګه ښځو ته زیاتې دي.

**د څېړنې جوړښت:**

زما مونوګراف درې څپرکي لري، چې لومړی څپرکی کې ( سريزه، د مسلې بيان، د څېړنې موخې، د څېړنې اړتيا او ارزښت، څېړنېزې پوښتنې،د څېړنې فرضيات، څېړنيز بدلونونه،د څېړنې مخينه، د څېړنې لاره، د څېړنې مواد، د څېړنې جوړښت په دويم څپرکی کې (دولت لواني په هکله معلومات او پېژندنه، اثار) په درېم څپرکی کې (د دولت لواني په اشعارو کې تجنيس په هکله معلومات) او داسې نور...)

## دویم څپرکی

## د دولت لواني ژوندلیک

د پښتانه شعرا په لومړي ټوک کې د دولت د ذوکړې وخت د زرم هجري کال شاوخوا اټکل شوی دی؛ څکه چې له یوې خوا دولت پخپلو اشعاروکې ځان د پیر روښان (۹۸۰ه ق مړ)مرید څرګندکړی دی او له بلې خوا د دولت په نامه د پیر روښان یو خلیفه هم شته او سربېره پر دې د بایزید روښان په (۵۵مخ) او د روښانیان په (۹۲مخ)کې دغه خلیفه دولت او دولت لوانی شاعر یو بلل شوي دي؛نو ماته دا اټکل لږ څه د څېړنې وړښکاري په دې ډول:

دولت لوانی د دادو زوی د هغو روښانیانو په ډله کې ولاړ سړی دی،چې هند ته تللی دی او هورې ژوند کړی دی. دولت په رشید اباد او دکن کې اوسېدلی دی، دی په د دکن په هغه جنګ کې شامل و،چې میرزاخان روښاني په وژل شوی و. دولت هم په دې جنګ کې زخمي شوی و.[۶(۱۵م)]

دولت لوانی روښاني لارې زده کړې له میرزخان روښاني څخه کړې وې او د معرفت په انوارو بې زړه د میرزا په وسیله روښان شوی و. د روښاني لارې تبلیغ په لاره کې د خلیفه درجې ته رسېدلی و . دولت د دېوان خاوند شاعر دی په پښتو ژبه یو پند دېوان ځینې پاتې دي،چې په دوو دفترونو کې تنظیم شوی دی، ده په دېوان کې غزل،قصیده ،رباعي ،مثنوي، مربع او پیدا کېږي. الفنامه یې هم جوړه کړې ده.او دروښاني عرفان د تشریح او بیان تر څنګه اخلاقي، دیني مسایل، پندونه،معجزات مرثیې او نور مضامین هم د ده په دېوان کې پیدا کېږي. کله کله رندانه غزل هم وایي او دده په شعر کې هنري ارزښتونه د میرزا او واصل په سطح دی، د یوې ښکلې غزلې څو بیته یې دا دي:[۶(۱۰۴م)]

شیرین یار چې ما د زړه په سترګو تل کوت
هر ساعت بــه مې د مینې دده ګل کوت
د دیدن شراب راکړه هسې مست شوم
چې هر جز مې د معنا په قوت کل کوت
ځان جهان راڅخه هېر شو په مستې کې
لور په لور به مې دلبر جلوه ګر خپل کوت[۸(۱۰۴م)]

دولت لوانی په دې غزل کې عرفاني مسایل په ښه هنري انداز کې بیان کړي دي. د دولت دېوان په کابل کې پښتو ټولنې چاپ کړی دی.

له زړو معیارونو سره سم د دولت د دېوان یو ابتکاري اړخ دا دی،چې د ده په دېوان کې ځینې غزلې د خلیل بن احمد فراهیدي پر وضع کړي عروضي سیستم برابرې دي. د پښتو ادبیاتو په معلوم تاریخ کې دولت لومړنی پښتون شاعر دی،چې له دغې عروضي سیستم سره برابرې ځینې غزلې ویلې دي.

استاد عبدالکشور رشاد د دولت دغسې اشعار څېړلي دي او اوږدې څېړنې پرې کړې دي. دده دولت ژوند تر (۱۰۶۹هـ ق) کال پورې یقیني ښکاري.[۸(۱۰۵م)]

زیور الدین زیور په پښتو ادبتاریخ کې د دولت ژوندلیک او دده د اوسېدو ځای په هکله داسې لیکلي دي: دولت لوانی د روښاني سلسلې یو تکړه ملګری او مشهور شاعر دی،چې اصلي نوم یې دولت الله او په دېوان کې دولت د تخلص په توګه استعمالوي او هم ددولت لوانی، دولت الله ، دولت اله لوانی،شیخ دولت، فقیر دولت، دولت روښاني، دولت لونې، دولت محمد په نومونو یاد شویدی.[۵(۱۰۵م)]

دولت د پیر روښان د مسلک او افکارو ښه انځورګر او مرید دی:

زه فقیر دولت مریـــد د میاروښـــان یم
له فتـــراکه به یې نه کاږم اسان لاس [۶(۱۰۵م)]

د حالنامې له مخه دی د روښان خلیفه ګڼل شوی دی. د دولت د یو څو شعرونو څخه د هغه حال احوال او ټاټوبی معلومېږي:

شیخ دولت الله مې نوم دی هاتف ایښی
پر زیـــان د خلکو یاد فقیر دولـــــــت یم [۵(۱۰۵م)]

د دولت د پلارنوم (دادو) نومیده،چې په تیرا کې اوسېده او د احداد په لښکر کې یو تکړه جګړن و.

د کمکوټی ثنــــا مکړه
د دادو نوحـــانی زویه[۵(۱۰۵م)]

که څه هم د دولت زېږېدنې او مړینې ثابت تاریخ معلوم نه دی؛خو بیاهم د ځینو بیتونو څخه څه ناڅه د هغه د ژوند د مړینې پته لګېدای شي. د ځینو اسنادو په اساس د دولت ژوند تر (۱۰۶۹ه ق) پورې څرګند دی؛ځکه چې ده د علي محمدمخلص مرګ وېرنه ویلې ده ؛ له دې څخه معلومېږي،چې د دولت ژوند به تر(۱۰۷۰ه ق) رسېدلی وي. له بلې خوا دده ددې لاندې شعرونو څخه هم څرګندېږي،چې هغه تر سپین ږیرتوب پورې ژوندی و او د خپل عمر او حال او حالت یې داسې ترسیم کړی دی:

زه هلک وم افسانه وم ،له عالمه بېـــــــــګانه وم
ترځلوېښتو کالو تېر شوم، بېګانه یم لا تــــــر اوسه
چې عاشق په جانانه شوم له اغیارو کــــرانـه شوم
تور ویښته مې د سر سپین شو کرانه یم لا تر اوسه [۵(۱۰۸م)]

یونس وایي:

په ژړا که پسې تور د سترګو سپین کړم
را به نه شي ګذشته عمــــــــر نایــاب [۲(۳۱م)]

د دولت، یونس او میرزا حنان بارکزي د شعرونو په پرتله کولو کې ډېر څه ورتوالی لري. لکه څنګه چې یونس د عمر د تلو په هکله اشاره کوي او وایي: عمر چې تیر شو بیرته نه راځي . نوموړی زیاته وي که د سترګو تور په ژړاو سپین کړم، بیاهم تللی عمر به رانشي. دا خبره حنان په دې ډول بیانوي :

عمــــر درومي په شـتـــــاب
دم قدم دئ په حســــــاب [۱(۱۹۰م)]

عمر په تیزۍ سره روان دی ؛ نو د خپل عمر لپاره فکر وکړه چې بیا نه را درومي . لنډه داچې ما دخپل استعدادمطابق هغه څه مې چې وس رسیده،ترسره کړل. شایدزما په کارکې به څه نا څه نیمګړتیاوې وي، هیله ده چې په راتلونکي کې دغه نیمګړتیاوې بشپړې کړای شي.

دولت هم د میرزا له مخلصانو او شاګردانو څخه و:

میرزا ګنج راته خپــــــل کور وښو غنی شوم
بې هوده منت به ولې د نـــــور چـــــــا وړم

یو صفت بـــه یې لایق راوکړی نـــــــه شی
که ثنا په تـــــمام عمــر د میـــرزا کـــړم
محــــــق وحـــدتي کان د تـــــــصـــوف و
په رموز یې په همه عـلـــــــم دانـــا کړم
د کل شاعرانـــــو شـــاه دی پــه افغــان کې
څو تعریف د ده د عـــلم د سخــــا کړم
تر ده به سخي نه وي هېڅ پښتـــــــون بـــل
یو یو بیـــــــت یې ډېر ارزي که یې بها کړم
د شهید میـــــــرزا په صف مې کړې قادره
دا فقیــر دولت دایــم دغـــــه دعــــا کړم [۵ (۱۰۷م)]

دولت ددکن په جنګ کې (۱۰۴۰هـ ق) له میرزا سره ملګری و. حالنامه وایي،چې دولت د دادو زوی هم په دغه جنګ کې زخمي شوی و. دولت لوانی د پښتو ژبې پوخ او نومیالی شاعر دی چې ډېرو داخلي او ختیځ پوهانو دده ستاینه کړې ده او دده په اشعارو کې هم د روښان ، ارزاني خویشکی،میرزا، مخلص،احمد،سعید او نورو ستاینه شوې ده ،چې دا کار په ادبي نړۍ کې د قدر وړ دی او ادب څېړونکو ته دا پته په لاس ورکوي ،چې د ذکر شویو شاعرانو پلټنه وکړي او د هغوي ورکې مرغلرې رامنځ ته کړي. البته دغه کار د کلاسیکې دورې زیاترو شاعرانو کړی دی.

دولت لوانی په دېوان کې راغلې دي:

پیر روښـــــــان لکه مــلاح مدد یې راکړ
په ګرداب کې مې زورق و په دا نن شپه [۶ (۱۶م)]

## دولت لوانی د شاعرانو په شعرونو کې

د پښتو نامتو شاعر خوشحال خان خټک (۱۰۲۲-۱۱۰۰هـ ق) په خپل شعري قوت سره د یو شمېر پښتنو شاعرانو په ډله کې د دولت یادونه دا ډول کړې ده:

چــې لاف وهــي د شـــــعـــــر
نـــن پــــــه دا دور دي ډېـــــر
خـــدای دې نه کاچې بــه وایـــم
حــــال د دویـــو تـــــېــرو بېـــر
څوک پاوي څــوک نیم پـــاوي دي
قلنـــدر پــــه کې نیــــــم سېـــر
چې د مـــوږه پـــه حســــاب دي
هېڅ مې نـــــه دی واصــــل هېر
بــــل دولـــت فقیر درې پـــــاوه
ززه تـــــــرې څو شېــرشاهی تېــر[۳](۳۸۶م)

عبدالرحمان بابا د دولت د یو شعر په تضمین که داسې ویلي دي:

چې امېد په عمـــارت ددې دنیـــــــا کا
د کاغذ پــه کښتۍ سېر د دریـــــــا کا
د ا جواب (رحمان)هغه کا چې دولت وي
که دلبـــر د دیــــــدن مې پیـــاپی را کا [۷](۳۱م)

کاظم شېدا د میرزا او واصل سره یو ځای دولت د ښه کلام خاوند بولي:

یو میرزا دولت واصل هم
ښـه کلام لري حاصل هم [۴](۲۴۱م)

## د دولت لواني مذهبي عقیده او شخصیت

د دولت لواني شخصیت دده له دېوان څخه معلوم دی، چې نوموړی یو مذهبي او اسلامي سړی دی؛ خو ځینود روښانیانو په هکله بېلابېلې ویناوې کړې دي، چې دلته یې د ثبوت لپاره راوړم: په روښانیانو پسې مخالفانو د الحاد ډېر تورونه لګولي دي،ځینې یې اباحتیه بولي،ځینې یې حلولیه او څوک یې د تناسخ منلو په تومت کافرانوي او څوک یې بیا د نبوت د دعوې په تور په وژلو ثواب ګڼي. (۲۱م)[۶]

پښتانه وایي:(څومره خولې هومره خبرې)راشئ!د خلکو خبرې یوې خوا ته کښېږدو،یو وار د دولت روښاني مذهبي عقیده دده پخپلو اشعارو کې ولټوو او وګورو،چې دده له خپلو ویناوو څخه څه راوځي؟

میستیسېزم د انساني افکارو او عقایدو هغه خوا ده، چې په هغې کې یوازې یو (حقیقت) په ګوته کېږي او انساني روح د یوه دایمي او بې زواله حقیقت یو داسې جز بولي، چې په موقتي ډول یې انسان په جسم او تن کې ځای نیولی دی؛ یعنې د اروح (د لوی روح دا برخه) په یوه تپه تیاره تروږمۍ کېرا ایساره شوې ده. دا روح( د لوی روح دا وړه برخه) تل په دې هڅه کې دي، چې د مادي تپ او تیاره تن څخه ځان خلاص او د لوی روح سره یو ځای شي د میستیسېزم د تعلیماتو په اساس اسکېتیسېزم( ریاضیت،ترک دنیا) یوازېنۍ لاره ده، چې انساني روح له دې تپې تیارې څخه راوباسي او د حقیقت پړاو ته یې رسوي. (۲۱م)[۶]

د همدې مفکورې او ایډیالوجۍ علمبردارانو ته دنیا غم او ښادي، رېږ او زور... او داسې نور بې تفاوته لېدل کېږي. داسې کسان د ځمکني ژوند په باره کې فکر کول او ځان ستړی کول بې ثمره بولي او هغه ډېررټ غندي. دوی یوازې د لوی روح او حقیقت سره د یو ځای کېدو او و صلت د لارو او چارو د موندلو په فکر کې ډوب تللي دي او ټول هاند او زیار یې په دې خوا کې په کار اچولی دی.

سوفېزم ته اخلاقي قوانین، معیارونه او د انسان اجتماعي مکلفیتونه او مسلیتونه، اجتماعي راشه درشه، روابط او داسې نور بې تفاوته معلومېږي. بې تفاوته په دې معنا، چې که حقیقت ته د رسېدو په غرض پر پورتنیو قیودي پېښو سترګې هم پټې شي، کوم تاوان نه لري او ایماني کمزورتیا نه ګڼل کېږي. سوفېزم په اتمه پېړۍ کې په اسلامی نړۍ کې پیدا او تر ننه پورې په

بېلو بېلو اشکالو په انساني ټولنو کې څرګند او خپور شوی دی. د افکارو او عقایدو دا ډول حرکت( تصوف) په پښتني نړۍ کې هم بې نفوذه نه دی پاتې شوی او د پښتني ادب د تاريخ په بېلو بېلو دورو کې يې څرګندې غزونې لېدل کېږي. عرفاني طرز تفکر په پښتو ادب کې جوت رول لوبولی او پښتو ژبې ادبي پانګه يې د کميت او کيفيت له مخې غني او خوندوره کړې ده. دې جهانبينی، چې د خپل مادي او معنوي چاپېريال زېږنده ده. د روښانيانو د ادبي نهضت د پيروانو او ارادتمندانو په افکارو او اثارو کې په مسلکي توګه تبارز کړی دی.[۶(۲۱م)]

دولت روښانی هغه شاعر دی، د روښانيانو د شاعرۍ روح د وحدت او يقين(باور) تبليغ او د شرک و ګومان ( پندار او شک) غندنه ده، د دوی وحدت له اتحاد، ظرفيت او حلوله بېزاره دی او خلا(عد مفطور) روح او زمانې ته د خدای په سترګه نه ګوري؛ ځکه وايي:

د توحيد وينا مې شوه پر زړه نزوله

مبــــرا ده له الحاد هم له حلـوله [۶( ۲۶م)]

دغه راز د روښانيانو يقين د ايمان په قوت سره عيان لېده دي، عارف، چې د توحيد مقام ته ورسي. هرې خواته ، چې ګوري د ( فاينماتولوا فثم وجه الله) ننداره ورته برېښي او هر لور ته ، چې غوږ ونيسي د ( نحن اقرب اليه من حبل الوريد)

په معنوي توګه د دولت لواني شاعري د زړو استادانو په وصف کې ده. د هغه وخت فکري ارزښتونه يې ټول په کې نغښتي دي. د عشق مجازي پرځای يې د عشق حقيقي نمونې خوندي کړي دي. دا يو داسې دور موږ ته را په ګوته کوي، چې د هغه چاپېريال علمي او عملي کچه را برسېره شي. موږ په کلکه دا ويلای شو، چې روښاني دورې موږ ته ډېر کلک عقيدت مند پيدا کړي دي، چې خپلو تحريکونو ته يې په ډېره مينه او اخلاص دوام ور بخښلای دی. له پښتو سره د ډېرې مينې کلک ثبوتونه موږ له ذکر شوي شاعر سره سره د ډېرو نورو شاعرانو نومونه او کلام په مخ کې اېښوولای شو.

دولت لوانی ډېر پوخ او رواني لرونکی شاعر دی. د ده شاعري د کلاسيک پښتو ادب درنه برخه ده. موږ ته ډېر پټ مطالب راکوي، چې قصيدې، غزلې، څلوريزې او مثنوي غوندې رنګونه لري. په شاعري کې يې د مجاز موندنه او د خدای څښتن د نومونو راوړنه په ښه انداز سره په ګوته کېږي. دلته به ډېرې ژوري او په تاله تللي خبرې وي. د فکر انتها به وي او تصوف د

مسلکونو پر بنیاد به  د یو لوی یې  پردې د لرې کېدو خبرې کېږي. د وصلت او سکونت مرحلې ته د رسېدلو بیان به په رواني سره په مخه راځي. دلته به په هر ځای جلوه گر د یقین په سترگو د لېدو خبرې وي. بینایي به هم دې  ته ویل کېږي په دې شاعري کې  د ډېر زیات ریاضیت خبره په مخه راځي، چې د عملي میدان برخه ده. د خبرو غازیان دلته هېڅ ځای نه لري او هر څه په څرگنده توگه د دولت لواني تر خولې وتلي دي؛ ځکه چې د الله نومونه یې په خپل قلم برخه یې گرځولي دي. (۶ ۲۱م)

دولت لوانی شاعري د زړو نمونې په توگه موږ ته ډېر  د خدای نومونه او د پښتو ادب پخوانی فورم رارسوي، چې په څرگندو او ناڅرگندو معناو موږ ته را رسېږي. دا نومونه او لغاتونه د پښتو ژبې ښایښت برخه دي او  اوسنی نه استعمال یې موږ ته دا  احساس راکوي، چې موږ له خپلې ژبې سره څومره  اخلاص کړی دی له دې سره د دولت لواني لوست او  لیک هم راته څرگندوي؛ ځکه دا شعرونه د یو عام ذهن شعرونه نه دي او نه یې په عامه پېرایه کې ادا کړي دي. دولت ډېرې د نو رو  ژبو  نومونه او توري د خپل کار  د اخېستلو لپاره په کار راوستلي دي، چې ذهني کچه یې تر یو عام ذهن لوړوي. (۶ ۲۱م)

## د دولت د اشعارو ځانګړتیاوې

په روښاني دوره کې دولت ښه شاعر او دحوږ کلام څښتن دی. په دې معنا چې د هغه شعر نسسبتا نورو شاعرانو لکه (ارزاني ، میرزا، واصل،مخلص) ته روان او ساده دی او د مشکلو او نامانوسو الفاظو څخه خالي دی.

که څه هم په مسلکي توګه دده کلام د معرفت له اسرارو څخه ډک دی او د میرزا د افکارو هنداره ده ؛خو بیاهم ده د تصوف او معرفت ګران مسایل په پښتو شعر کې په اسانه او ساده ژبه ښودلي دي. د دولت ټول دیوان د عشق، تصوف او سلوک څخه ډک دی.

دی د روښانیانو په سلسله کې د وحدت الوجود د فلسفې کلک پیرو دی. هغه په ټولو موجوداتو کې یوازې د حقیقي محبوب جلوهویني،کاینات د هغه د وجود مظاهر ګڼي؛نور وجودونه ټول اعتباري او حقیقي وجود د حق تعالی وجود دی.

پــــــه دوه کونه بــــــــاور وکړه
موجود هېــــځ نشـــته بې خــدای[۵( ۱۱۱م)]

***

په ظاهر باطن چې ګورې سبـحان یو دی
صورتـــونـه ډېر لېده شي جـانان یو دی[۵( ۱۱۱م)]

***

د یوه اشنا نښان پـه کې لېـــده شي
په هر ګل چې فهم ښه جدا جدا کړم[۵( ۱۱۱م)]

***

د بـــاطن سترګې بینا لره دولـــتــه
هېڅ نظر پـــه نقش مکړه بې نقاشه [۶(۱۷۵م)]

اوس چه د شاعر د پېژندنې په باره کښې مو څه ناڅه ولیکل، دا به غوره وی چه د ده د اشعارو خصوصیاتو په باره کښې هم څه ووایو څو چه په خپله اصلي اوواقعي معنایې وي یې و پېژنو.

دولت په خپل شعر کښې د پښتو د دودونو، فولکلوري روایاتو، متلونو او اصطلاحاتونه هم کاراخیستی دی او په دې توګه په عمومي ډول دده دهنر یوه ښېګڼه دا ده، چې د خپل لیریک شعر ښکلې ناوې یې په پښې جامعه او ګېڼه لاښایسته کړې ده.

ده د خپل هنر له منابصوا دیني روایاتو، فارسي او عربي ادبیاتو، د پښتو د کلاسکو او معاصرو شاعرانو د آثارونه خام مواد را اخستی دي او هغه یې د پښتو په هنر کښې وي.

د دولت د شعر په کلمه کلمه، بیت بیت او غزل غزل کښې بې شمېره ښکلي لفظي او ادبي صنایع او لوی ځښتن نومونه د سړی مخې ته راځي چه هغو تشریح او تفصیل ځانله څېړنه غواړي.

د لواني دولت په دیوان کښې زیات شمېر معماګانې راغلي دي چه یوځو یې د (محمدي) صاحب او یو څه یې د(خدمتګار) له خوا، په خپلو خپلو ځایونو کښې حل شوي وي او پاته برخه یې د ګرانو او درنو لوستونکو د قریحې ازموینې ته پاته ده.

د دولت د شعرونو فورم د پښتو دکلاسیک شعر عام فورم دی، چې هره نوعه یې تقریبا د هر کلاسیک شاعر په کلام کښې موندلی شوو د یونس په دیوان کښې کوم شعر په ځانله او خاص قالب کښی په نظر نه راځي.

د لواني د شعرونو ډېره برخه عشقي، تصوفي او لیریک شعرونه دي چه د پښتو په لومړۍ درجه کلاسیکو شعرونو کښې راتلی شي. په دغه مضمون شعرونه یې هم ډېردي اوهم خوراښه شعرونه دي.

د دولت د شعرونو بل مهم مضمون، تصوفي او مذهبي مضمون دی. تصوفي شعرونه یې اغلبا د کوم خاص تصوفي مکتب د تبلیغ او نمایندګی وظیفه نه ترسره کوي. بلکه اکثرا د شریعت ظاهري رنګ، دیني او مذهبی نصیحتونه او روایات، ځای په ځآی د قرآن شریف ایاتونه،الله نومونه د اسلام د حضرت پیغمبر«ص» احادیث او مذهبي مشرانو اقوال پکښې تلمیح او ترجمه شوي او یا کټ مټ یا په لنډه توګه راوړل شوي دي. کله کله فقهی مسایل هم پکښې راغلي دی او د حضرت پیغمبر «ص» د معراج کیسې هم پکښې نظم شوي دي.

سربېره پردې د دولت په شعرونو کښې حکیمانه نکتې، اجتماعي او اخلاقي توصیې، د پښتنولۍ آداب هم هرځای په ډېره موثره شاعرانه ژبه، او په ډېر قوي منطقي استدلال بیان شوي دي.

د دولت په دیوان کښې د عصر دسیاسی سیستم نه د راپیداشو یو اجتماعي حالاتو او طبقاتي تضادونو تصویر په عمومي توګه څه تت غوندې ځلېږي. ددولت  د دیوان په یوه پارچه کښې، دهغه د عصر دعشقي او اجتماعي حالاتو څرګندونه په ډېرصراحت شوې ده ،چې داسې پیایږي:

شیرین یار چې ما د زړه په سترګو تـــل کوت
هر ساعـــــت بـه مې د مینې د ده ګل کوت
د دېدن شراب یې  راکړه هسې مست شوم
چې هر جز مې  د معنی په قـــــوت کل کوت
ځـــان، جهان را څخه هېر شو په مستۍ کې
لــور په لور به مې دلبـــر ګر خپــــــل کوت [۸(۱۰۴م)]

**عشق:**

دوت هم دمیرزا او رحمان بابا غوندې هر څه د عشق نه بولي:

عجب لو ی بې حد دریاب دی بې پایان عشق
هومره څوک مجال لري چې که بیـان عشق
په دوه کونه نور څه هېڅ نشته دولـــتــــــه
په همه صورت ظاهر دی پاک روښان عشق
د عشق درد زما نصیب شو بې عـــــلاجـــــه
پــه دارو دانـــا طبیــــــب شو بې عـــلاجــه [۵(۱۱۴م)]

**پیرکامل:** دولت د پیرۍ او مریدۍ کلک طرفدار دی:

چې کامل دوړانـــدې کړی دی رهبـــر چا
هغه ګوي د مقصود وړی دی له هر چــا [۵( ۱۱۵م)]

**انتقادي:**

که څه هم د دولت په دیوان کې د تصوف او عشق تله ډېره درنه ده؛خو بیاهم یونیم بیت پیدا کېږی،چې هغه په نورو مسلو باندې غږېږي:

له خپل قام سره دوستی نه که کم اصل
چې واصل وتـــه رجـوع لري اصیــــل دی [۶(۱۷۴م)]

**تربیوي:**

نـاقصان طبیبان مـه وی
د رنځور احوال بــد ترکه
بد همراه د دین دهزن وي
مل گرفتار په لوی خطر که
د دولت خبرې پـــنـد دي
پر پاک زړونو ښــه اثـر که [۶(۱۴۲م)]

**نصیحت:**

ښه سعید فرزند هغه دی په جهان کې
چې له امره بېرون نه وي د پـــــدر هېڅ
د ظاهر په کار هوښیــــار موی شگافي که
د بــــــاطن نقصا نه ویني کورو کر هېڅ
وجاــــثل ته نصیحت مه کړه دولتـــه
په خبـــــره نه پوهېـــــږي لکه خر هېڅ [۶(۲۰۲م)]

**جهان بیني:**

هر نفس دولته زېرمه د سفر کړه
د فاني دنیا ژوندون دی لږ مودته [۶(۸۲م)]

**سمبوليزم:**

په دا باغ کې ډېر ښه وپوښته دولتــه
د بهار د ګل له حاله عنـــــــدليب ته (۶ ۸۳م)

**شعري رقابت:**

د جاهل شعر به څه زيـب که دولته
چې نه وزن عبارت نه يې ترتيب زده (۶ ۱۲۳م)

**عروض:**

چې دا هسې شـه موزون کلام مې وکه
له حضرتـه امېـــد واريم په انعــام زه (۶ ۱۲۳م)

***

ای چې عاقل يې رحم مه کړه په کم زاد باندې
چې سبق واخلي ملامت که پــه استـــاد باندې (۶ ۴۰م)

## د دولت دېوان

د دولت لواني دېوان، چې له درېو دفترونو څخه جوړ شوی دی، تر اوسه پورې نه و چاپ شوی او دادی لومړی وار پښتو ټولنې توفيق ومونده، چې دغه ناوياته اثر پښتني جامعې ته په چاپي توګه وړاندې کړي.

د دولت دغه دېوان ۳۸۲ غزلې (۳۶) قصيدې (۱۱۱) رباعيات او (۳) مثنوي ګانې لري. دغه دېوان دهغې قلمي نسخې له مخې څخه چاپ شوی دی، چې ډېر کلونه د پښتو ټولنې په کتابخانه کې خوندي وه، بيا يې د مطبوعاتو په کتابخانه او وروسته يې د عامه کتابخانې په قلمي ځانګه پورې اړه درلوده.[۶( ۲۳م)]

د دولت دېوان يوه بله قلمي نسخه په ۴۲۲۸ ګڼه په برتش موزيم کې ساتلې ده، دا نسخه د خوشحال خان تر مړينې يو کال وروسته په ( ۱۱۰۱ هـ ق) کال نقل شوې ده. له دې څخه ښرګندېږي، چې د يوولسم هجري قرن پای ته د دولت د دېوان مطالعې د پښتنو په ادبي حلقو کې ښه رواج موندلی و، او ذوق ښتنانو يې نقلونه اخېستل پښتنو شاعرانو بې د غزلو په اقتفا اشعار ويل او تضمينونه يې ځنې کول، د مشهور صوفي شاعر رحمان بابا، چې د خوشحال د مرګ په وخت يې ادبي شهرت عروج ته نږدې شوی و، دا تضمين دغه مدعا ښه ثابتوي:

چې اميـــــــد په عمارت ددې دنيا کا
د کاغذ پــــــه کښتۍ سير د دريا کا
دا جواب رحمان هغه کا چې دولت وې
که دلبر د ديــــــــــدن مې پيابې را کا[۶( ۲۳م)]

د دولت د دېوان دوې قلمي نسخې د رامپور په رضا لايبرېري کې هم شته، دغه لايبرېري د هندوستان د اتراپردېش د ايالت په رامپور نومې ښار کې واقع ده، چې د پخواني روهيلکهنډ مرکز و. او هغه وخت د (انولې) په نامه يادېده.[۶( ۲۴م)]

# درېیم څپرکی

## د دولت  لواني په اشعارو کې تجنیس

د دې لپاره چې تجنیس د دولت لواني په دیوان کې ولټو. لازمه ده چې د بدیع د علم او دهغه په تاریخچه او ارزښت باندې بحث وکړم.

**د بدیع علم:**

بدیع د (ب) په زور او د (د) په زېر په لغت کې خالق، پیداکوونکی، نوي ته ویل کیږي همدا رنګه د الله «ج» یو صفت هم دی.

ای د کل جهان صنیعه

ای د هر اسمــان بدیعه [۱۰ (۳۱م)]

بدیع عربي کلمه ده چې د نوي او نوي را وړونکي په معنی دی. د عربي صرف په اصطلاح د فاعلي او مفعولي نوم په معناوو راځي یعنې هم د (نوي راوړونکي) په معنی او هم د (نوي راوړل شوي) په معنا کارول کیږي. [۱۰ (۳۰م)]

بدیع هغه پوهنه ده چې دوینا او کلام له زینت او هغو صنعتونو څخه بحث کوی چې نظم او نثر ته ښکلاورکوي. یا په بله وینا بدیع هغې پوهې ته وایي چې په پکې د هغو کلمو په اړه بحث کیږي چې د کلام د ښکلا او زینت سبب ګرځي.

په قرآن کریم کې (بدیع) د نوي راوړونکی په بڼه د لومړۍ سپارې د البقره سورة په (۱۱۷) آیت کې راوړل شوی.  بَدِیْعُ السَموتِ والاَرْضِ وَاِذَا قَضی اَمْراً فَاِنَمَا یَقُوْلُ لَه کُنْ فَیَکُوْن.

ژباړه: «نوی پیداکوونکی د آسمانونو او ځمکې دی او کله چې اراده وکړي د یوکار پس یقیناووایي هغه و (شه) پس وشي»

د بدیع کلمې ته مولوي جانباز سرفراز په خپل اثر القرآن الکریم ټکي په ټکي او روانه ترجمه ا کې د (پیداکونکی) کلمه کارولې ده. [۱۰ (۳۰م)]

د بدیع کلمې ته مولوي جانباز سرفراز په خپل اثر القرآن الکریم ټکي په ټکي او روانه ترجمه ا کې د (پیداکونکی) کلمه کارولې ده. [۱۰ (۳۰م)]

په پښتنو شاعرانوکې کاظم خان شیدا نوموړي آیت ته په خپلو اشعاروکې نفوته کړې چې دلته یې راوړل ښه بولم:

ای دکل جهان صنیعـــه

ای د هــر آسمان بدیعه [۱۰ (۳۱م)]

د بیع د اصطلاحي معنی په اړه د بلاغت د پوهانو تعریف داری: بدیع هغې پوهې ته وایي چې پکې د هغو کلمو په اړه بحث کیږي چې د کلام د ښکلا او زینت سبب گرځي.

## د بديع د نوم ايښودنې وجه

داکتر زرين کوب وايي:

«د بديع ډېرى صفتونه د عباسيانو له لومړيو ورځو څخه په کاروړل شوي دي. چې بشار، مسلم بن وليد، عتابي او عربانو هغه صفتونه (بديع) وګڼل. دې لپاره چې دې ځېزونو د پخوانيو شاعرانو په شعرونو کې دود نه درلود. نوي او تازه وو نو له دې کبله د جاهليت د دورې اشعار هم له بديعي ضايعو څخه خالي نه وه. خو د پوهې لپاره يې بديع ته علمي بڼې ورکولو د نحوې او عروضو په څېرډېروخت ونيو. [۱۰ (۳۱م)]

بديع د عربو په لغت کې نوي شي ته وايي څنګه چې دغه کار په شاعرۍ کې يو نوښت و نو ځکه په بديع مشهور شو. د الفظ بيا په يوعام مفهوم استعمال شو او په تنقيدى ليکنو کې يې هم ځاى ونيو. مشهور اديب جاحظ په دريمې هجري پېړۍ کې د الفظ ځاى په ځاى کارولى دى.

ابن المعتز العباسي په (۲۴۷هـ ۲۹۶هـ) تر ټولو مخکې دغه فنواوړه او ډولونه يې وټاکل او هر ډول تحديد او تعريف يې وکړ. په خپل کتاب (البديع) کې په دې بشپړ بحث وکړ. [۱۰ (۳۱م)]

له دې نه وروسته ابوهلال عسکري (۳۹۵هـ) دغې پوهې ته غوره هم پراختيا ورکړه.

ابن رشيق (۴۶۳هـ.ق) مړ د بديع پوهنې دايرې نوره هم پراخه کړه او پخپله کتاب (المعده) کې يې له شپيتونه پرزياتو صفتو نو تفصيلي بحث وکړه.

دده کتاب په شمالي افريقا او اندلس کې ډېرپه زړه پورې واقع شو او په دې توګه د بديع پوهنه هم په دغه سېموکې خپره شوه.

د عبدالقاهر حوزاسرارالبلاغه اثر جاني (۴۷۱) په دغه دوران کې د ډېر شهرت وړ وګرځيد. وروسته ابويعقوب سکاکي (۶۲۶) هـق په مفتاح العلوم کې دا بحثونه نور هم بشپړ کړل. [۶ (۳۱م)]

د علامه تفتازاني دوه مهم کتابونو د عربو او عجمو په لويو مدرسو او ښوونځيو کې تدرېسي بنه غوره کړه او تردې وروسته نور کتابونه تقريبا په همدې اساس وليکل شول، ددې کتابونو تر اثر لاندې بديع پوهنې پارسى او عربي ته لاره وموندده واړه او پر بيلابېل کتابونه په کې وليکل شول په دې ډول بديع پوهنه د ادب پوهنې يوه مهمه برخه وګڼل شوه داسې برخه چې پرته له هغې ادبپوهنې پوره او بشپړه نه شي کيداى.

که د پښتو ادب لومړی دورې نه په غور سره وکتل شي داسې ښکاري چې نامتو شاعر امیر کرور (۱۵۴) هـق مرهم د بدیع فن ته پاملرنه کړې ده، ځکه چې په لاس ته راغلي مشهور شهر کې یې د لفظی او معنوي ضایعو خورا ښې بېلګې شته او په همدې ډول د دې دورې د نورو شاعرانو په اشعارو کې هم ادبي صفتونه ښه ډېر کارول شوي دي او دغه لړۍ همداسې پسې را روانه ده او د پښتوادب د دویمې دورې په اشعاروکې دغه صفتونه لېدل کیږي.

د پښتو ادب په دریمه دوره کې د بدیع فن د کمال مرتبې ته ورسید، دا چې بدیع پوهنې کله دود وموند او چاپړې کتابونه ولیکل ددې خبری لاځه پته نه لګي دا یوه څرګنده خبره ده چې په دې دوره کې د بدیع فن ته بشپړه پاملرنه شوېده. نو دا هېله به بې ځایه نه وي چې د دغه فن اصول او قواعد دې هم وضع شوي وي او ددې علم په حیث دې دغه فن کتابي بڼه موندلې وي خو دا چې د پښتو ادب په لومړیو یادو شو تاریخي دوروکې په دې اړه له موږ سره څه نشته ددې خبرې دوه لاملونه کیدای شي.

لومړی دا چې په بدیع پوهنې باندي به کارشوی وي خو د پښتو د نورو لرغونو آثارو په څېر به داهم له منځه تللي وي او یا به په تیارو کې پراته وي.

دویم دا چې پښتو ادبیاتو او شاعرانو به دا ضرورت نه وي محسوس کړی چې د بدیع د فن اصول او قواعد دې وټاکي او دپوهنې په حیث دې رابر سېره کړي. [۱۰(۳۳م)]

په هر حال په ۱۳۲۶هـ لمریز کال عبدالروف بینوا د (ادبی فنون) په نوم یو کتاب ولیکه چې یو څو محدود مخونه یې د بدیع پوهنې په اره کې وي وروسته له ده څخه په ۱۹۵۷م کال سید نسیم الحق کاکا خیل (روح ادب) نومی کتاب ولیکه دا کتاب ددې برخې لري.

لومړې برخه یې معاني، دویمه بخه یې بیان او دریمه برخه یې بدیع ده په دې ډول د بدیع علم په اړه دا او داسې نور خواره واره کتابونه ولیکل شول چې هر یویې په خپل وخت کې په زره پورې او د قدر وړ دي. [۱۰(۳۲م)]

## د بدیع علم ارزښت

هغه څوک چې د کلام پېژندونکي دي د بدیع ارزښته له هغوي پټ نه دی، ځکه نوموړي صفتونه د کلام د معنی پر ښکلا او لطف زیاتونه کوی او خبره اهنګینه او د اوربدو لپاره خوږه وي. کله منشور کلام د منظوم کلام په ډول ښيي او کله معنوي پیوند په کلام کې راجو توي. په دې ترتیب دو یونکي خبره ادبي کلام ته نژدې شي او د لوستونکي د لوستنې شوق را پاروي.

د بیعي د ښکلا وو کارونه باید په احتیاط سره وشي؛ ځینې وخت شاعر په کلام کی یوازې همدې خواته توجه کوي او اصل مطلب پکې غیب او یا ډېر پیکه شي نو په کار ده چې موږ له بدیعی ښکلا څخه د یوې وسیلې په ډول د خبرې په زړه پورې والي لپاره کارواخلو.

همدارنګه موږ باید په خپل کلام کې بدیعی ښکلا ته طبیعي رنګ ورکړوو چې لوستونکې داسي فکرونه کړي ګنې شاعر په شعوري ډول نوموړي صفتونه په خپل کلام کې راوړي دي، چې په دې سره هم دکلام اصلي موخې ته تاوان رسیدې. [١٠ (٣٣م)]

بدیع د یوعلم په حیث د عباسیانو په لومړنیو وختو نو پورې تړاولري. دا چې نوموړی علم د عربي په واسطه فارسي، پټو او نورو ژبو ته راغلی دی. نو ځکه یې اکثره کړنی را اصطلاحګانې اهم عربي دي. د بدیعي صفتونو د را ټولولو او کتابې بڼی ورکولو په اړه ډېري څېړونکو نظر دادی چې د لومړیځل لپاره دا کار عبدالله بن مهتز عباسي کړی دی، چې په (۲۹۶هـ) کې په قتل رسېدلی دی. نوموړي د لومړي ځل لپاره د پخوا نیو شاعرانو په کلام او همدا رنګه په قرآن او حدیثونوکې (اوولس) ډوله صفتونه را وویستل او دې کتاب ته یې (البدیع) نوم کېښود. [١٠(٣٣م)]

ښاغلی صادقیان پخپله لیکنه کې د ډاکتر شوقي ضیف خبره داسې را اخلي: «دکتور شوقي ضیف په دې اړه داسې وایي (بدیع د ادبي صفتونو او فنونو په معنا د ابن معتز په زمانه کې [چې د البدیع کتاب مصنف دی] دود شوی دی او مخکې ترده د عربو شاعرانو او ادیبانو دا نوم نه پېراند، مګر په خپلو آثارو کې یې په کار وړل اما تر دغه وخت چا ځانګړی کتاب په دې اړه نه وتالیف کړی او دلومړي ځل لپاره عبدالله بن معتز عباي په (۲۸۴) هـ کال په دې کار لاس پورې کړ او د (البدیع) په نامه کتاب یې د بدیع د علم په نامه تالیف کړ. څرنګه چې پخپله ابن معتز په دې اړه وایي [بدیع هغه نوم دی چې د شعر د فنونو لپاره وضع شوی دی او شاعرانو او ادیبانو هغه ذکر کړی دی ولې هغو پوهانو چې د پخوانیو لغتونو او شعرونو په اړه یې معلومات لرل دا نه

پېژندل او د هغو له څرنګوالي څخه يې خبرنه درلود. د بديع صفتونه يې سره نه وراجمع کړي له ما څخه مخکې په دې کارچالاس نه وپورې کړی.]]» [۱۰ (۳۴م)]

ښاغلی صادقيان بياپه همدې اړه د (انوارالبديع) کتاب وليکوال نظر را اخلي: «واول من اخترعث و سماه بهذالتسميه، عبدالله بن معتز العباسي) لومړی سړی چې بديع يې اختراع او په دې نوم ونوماوه عبدالله بن معتز عباسيو.» ترعبدالله بن معتز وروسته قدامه بن جعفر چې د عبدالله معاصر وپه نوموړي علم کې زياتونه وکړه او شل صفتونه يې نوروهم نومول چې په هغو کې اووه يې له عبدالله بن معتز سره يوشان وتر قدامه وروسته ابوهلال عسکري په نومړي علم کې زياتونه وکړه او بديعي شکلا وې يې (اووه دېرشو) ته رسولي دي او ترده وروسته ابن رشيق قيرواني (پنځه شپېته) بديعي سره را ټول کړل او شرف الدين پورتنی شمېر (اوياو) ته ورساوه او همدا رنګه شيخ زکي الدين ابي الاصبح د صفتونو شمېر (نوي وو) ته ورساوه. [۱۰ (۳۴م)]

د وخت په تېرېدو نوموړي علم ډېر پر مختګ وکړ او وخت پروخت پکې نوي صفتونه ورزيات شوي دي، چې اوس يې شمېرله سلګونو او ښتي دی.

ابو عبيده معمر بن مثنی ادبي فنونو يوه لويه برخه د بيان د علم په اړه يې يو کتاب د (مجازالقران ) په نامه ليکلی دی ، په دې کتاب کې ده هغه کلمې راټولې کړې دي ، چې د موضوع په لحاظ په معاني کې نه استماليږي ، بلکې په مجازي معناؤ کې ښه کار ترې اخستل کيږي.

د ابوعبيده ژوند د ( ۱۱۲ هـ ) په شاوخوا کې اټکل شوې دی او همدغه نيټه يې د مرګ وخت بلل کيږي. [۱۰(۱۰م)]

عمر هم د ادبي فنونو يوه بله برخې د معاني علم د قوانينو په اوډنه کې لويه برخه درلوده ، ده په خپلو دوو کتابو ( اعجازالقران ) او ( البيان والتين ) د معاني د علم ښه اصول او قوانين بيان کړي دي، او په کال( ۲۵۵ هـ ق)کې مړدی، تر دې وروسته (ابن فتيبه) پخپلو دوو کتابونو يعن(الشعروالشعراء ) او ( المتردالکامل ) د دغه علم ځينې اصول بيان کړي دي. [۷(۶م)]

عبدالله د معتز زوی د ادبي فنونو لوی بنسټ ایښودونکی ( ۲۶۹ هـ ق ) په شاوخوا کې مړدی ، دې عالم تر ټولو د مخه د بدیع د علم په اړه یې یو کتاب د ( البدایع ) په نوم لیکلی دی، ده په دې کتاب کې د بدیع د علم (۱۷) فنون ذکر کړي دي ، ترده وروسته د ده معاصر(قدامه بن جعفر) د(نقدالقدامه) په نامه یو کتاب چې د عبدالله د (۱۷) فنونونه علاوه د بدیع (۱۳) نور فنون هم ورزیات کړل ، چې د ده د مړینې نیټه ( ۳۱۰ هـ ق ) په شاوخوا کې ده[۱۰(۳۴م)]

تر عبدالله او قدامه وروسته ده د ادبي فنونو ( اضاعتن ) په نظم او نثر سره لیکلی او د بدیع د علم (۳۵) فنونه یې پکې راټول کړي دي ، عسکري په دې کتاب کې د بلاغت د علم نور قواعد لکه : فصاحت ، بلاغت ، ایجاز ، اتناب او داسې نور بیان کړي دي عسکري په دې کتاب کې د بدیع بیان او معاني علوم چې د بلاغت د علم په چوکاټ کې ویل کیږي په ښکاره ډول بیان کړي دي. د ابوهلال عسکري د مړینې کال ( ۳۹۵ هـ ق ) په شاوخوا کې اټکل شوی دی.[۷(۲م)]

دا عالم د (۴۷۱هـ ق) په شاوخوا کې مړ دی ، د ده دوه مشهور کتابونه د ادبي فنونو (امرارالبلاغه ) او ( دلایل الاعجاز ) په نوي سبک او نوي طریقې سره اوډن او لیکل شوي دي په دغه کتابو کې ده د قواعدو د بیان سره ډیر کتابونه منځته راوړي دي ، او پر ډیرو علمي مثالو سره یې قوانین ښه اوډن کړي دي. [۷(۳م)]

زمحشري (۵۳۸ هـ ق) په شاوخوا کې مړ دی ،د ده مشهور کتاب د (تفسیرکشاف) په نامه یادیږي او د پخوانیو پوهانو بیاني قوانین یې په سم ډول او نوي طریقې سره بیان کړي دي. [۷(۳م)]

دا عالم د ( ۶۲۶ هـ ق ) په شاوخوا کې مړ دی ،د ادبي فنونو په هکله د ده مشهور کتاب (مفتاح العلوم) په نامه یادیږي د پخوانیو پوهانو بیاني قوانین یې په سم ډول بیان کړي دي.[۷(۳م)]

د عروض علم واضع او رامنځته کوونکی خلیل بن احمد الفراهیدي ( ۱۰۰ – ۱۷۵هـ ق ) پېژندل شوی دی، چې په دوهم هجري قرن کې یې ژوند کاوه او په ( ۱۰۰ ) کال په بصره کې پیدا شوی دی که څه هم تر دې د مخه نورو شاعرانو پر همدې عروضو برابر شعرونه او نظمونه ویلي وه مګر دا علم چا نه وه ورته وضع کړی. څرنګه چې د دې علم موضوع د شعر میزان کول او وزن معلومول دي نو ځکه خو عربان شعر له دوو مصرعو او د هغو له اجزاوو څخه جوړ بولي ، چې دغو دوو مسرو ته بیت ویلی شو. شعر به له یو بیت څخه کم نه وي. [۱۰(۷۳م)]

په ۱۳۲۶هـ لمریز کال عبدالروف بینوا د (ادبی فنون) په نوم یو کتاب ولیکه چې یو څو محدود مخونه یې د بدیع پوهنې په اړه کې وي وروسته له ده څخه په ۱۹۵۷م کال سید نسیم الحق کاکا خیل (روح ادب) نومی کتاب ولیکه دا کتاب درې برخې لري. [۱۰(۳۲م)]

لومړې برخه یې معاني، دویمه بخه یې بیان او دریمه برخه یې بدیع ده په دې ډول د بدیع علم په اړه دا او داسې نور خواره واره کتابونه ولیکل شول چې هر یویې په خپل وخت کې په زره پورې او د قدر وړ دي. [۱۰(۳۲م)]

که موږ د ادبي فنونو شالید باندې خبرې وکړو؛ نو لازمه ده د مخکې له میلاد څخه هم دا فن وجود درلودو او ګڼو شاعرونو په دې اصول باندې قدم ایښی دی. له دې ډلې څخه نابغه ابن سینا او ارسطو یادولی شو. دوی د شعر لپاره اصول او موازین وړاندې کړي دي، ارسطو په خپل کتاب( پوتیکا) کې د شعر جوړښت لپاره اصول او قوانین منځ ته راوړي دي، چې شاعرانو په هغه اصولو باندې خپل اشعارو ولیکي. زیور الدین زیور اوسنی ادبیاتو تاریخ کې لیکلي دي( پښتنې میرمینې، ادبي فنون، میروس نیکه، خوشحال ختک څه وایي، پښتونستان، اوسني لیکوال او پریشانه افکار د پښتو مشهور او ګټور کتابونه دي). [۱۰(۱۵۳م)]

همدارنګه اوس موږ ته جوته شوه، چې مخکې له میلاد او اسلام د رتګ سره سم د فنونو په هکله ډېر کار شوی دی، چې مخکې مې په دې هکله د معتبرو کتابونو څخه یادونه وکړه

## تجنیس

هغه ادبی صنعت دی، چې دوې یا زیاتي کلمې د شکل له مخې سره یو یا نږدې وي او د مخې سره بیلې وي تجنیس بلل کیږي تجنیس. هغه دومې کلمې په لیکلو کې یوشان یا یو څه فرق سره ولري؛ خو معنا یې سره کاملا متفاوته وي. د تجنیس لغوي معنا همجنس کول دي او په اصطلاح کې که چېرې په یوه بیت یا نیم بیتي کې دوې یا زیاتې داسې کلمې راشي چې په لیک اولوست کې سره یوشي او یا یو څه سره ورته وي خوچې ماناوې یې سره ببلې وي تجنیس بلل کیږي. تجنیس په اووه ډوله دی. دولت په اشعارو کې به یې وګورو:

۱. **تام تجنیس** چې په دوه ډوله دی:

الف: مماثل تام تجنیس.　　　　ب: مستوفی تام تجنیس.

۲. ناقص تجنیس:

۳. زاید تجنیس: په دې ډوله دی:

الف: مذید تجنیس:　　　　ب: منځوال تجنیس:　　　　ج: مذیل تجنیس

۴. مرکب تجنیس: په دری ډوله دی.

الف: متشابه مرکب تجنیس:　ب: مفروق مرکب تجنیس　ج: مرفومرکب تجنیس

۵. مکرر تجنیس:

۶. مطرف تجنیس: په دوه ډوله دی.

الف: لاحق مطرف تجنیس:　　　　ب: مضارع مطرف تجنیس:

۷. خطي تجنیس:

**تام تجنیس:**

که دوې یازیاتي کلمې داسې راوړل شي چې په لیک او لوست کې هیڅ توپېرونه لري او ماناېې سره بیلي وي.

تام تجنیس په دوه ډوله دي:

الف: مماثل تام تجنیس.　　　　ب: مستوفی تجنیس.

**الف: مماثل تجنیس:**

هغه تجنیس دی چی متجانسې کلمی یی دواړه نومونه یا دواړه فعلونه وي.

لکه دا بیت چې یونس خیبرویلئ دی:

مخ په مخ دې ځان ته ګوري

ځـــان و ځان و ته نمایان دي [۶(۷۶م)]

په پورته بیت کې د مخ کلمې دوه ځله راغلی دي چې لومړئ مخ یې د روي په مانا او دوهم مخ د طرف په مانا دي او دواړه نومونه دې؛ نو مماثل تام تجنیس دی.

په مقام مقام دې پوه شي

چې سلوک ســـــالکان دي [۶(۷۶م)]

په پورته بیت کې د مقام کلمه دوه معنا لرې چې لومړې یې د (ځوکئ) په معنا او دوم یې د (رتبه) په معنا دي؛ نو دواړه نومونه دي نومماثل تام تجنیس یې بولو.

چې طلب لري طلـــب کا

په مقصود پسې پویان دی [۶(۷۶م)]

په پورته بیت کې د (طلب) کلمې دوه ځله راغلي دي او دواړه نومونه وي او مماثل تام تجنیس دي.

د هیڅ سرو رفتار نه دی چالیدلی

دیار سروقـــد لېدلی په رفتار مـــا [۱۰ (۸۳)]

په پورته بیت کې د سرو کلمې دوه معنا لري لومړې سرو د (درخت) په معنا او دوهم سرو (سر) په معنا دي؛ نو مماثل تجنیس یې بولو.

په دنیاکې که فایده ترینه وانه خلې

اخرت کې خودنیا څه په کارنـــه ده [۱۰ (۸۳)]

په پورته بیت کې د دنیا کلمه دوه ځله راغلی دی، لومړئ (دنیا) د جهان په معنی اودویمه دنیا د مال او دولت په معنی کارول شوې ده، دا چې دواړه کلمې نومونه دي نو ځکه یې مماثل تجنیس بولي.

هر سړی به عاقبـــت که له دنیا کوچ

له فاني دنیا تحقیق دی د هر چا کوچ [۶ (۴۶۰م)]

په پورته بیت کې لومړی (دنیا) د اخرت په معنا او دویمه (دنیا) د (نړی) په معنا دی، دا چې دواړه نومونه دي؛ نو خلکه یې مماثل تجنیس بولي.

څو شاهان یې له زمین سره زمین کړه

چې لــه قهره یې لــرزان وتمام شهـــر [۶(۷۹م)]

په پورته بیت کې د زمین کلمې دوه ځله راغلی دي چې لومړی زمین یې د خاوری په مانا او دوهم زمین د ځمکی په مانا دي او دواړه نومونه دې نو مماثل تام تجنیس دی.

ځینې درپه غواصی له بحره راوړي

ځینې راوړي لــه دریاپه کف پکـف [۶(۱۲۳م)]

په پورته بیت کې د کف کلمې دوه معنا لرې چې لومړې یې د (قف) په معنا او دوم کف یې د (دست) په معنادي نو دواړه نومونه دي نومماثل تام تجنیس یې بولو.

**ب: مستوفی تام تجنیس:**

که له متجانسو کلمو څخه یو کلمه نوم او بله فعل وي مستوفی تجنیس دی.

لکه دا بیت چې دولت لواني ویلي دي:

په مقام مقام دې پوه شي

چې سلوک ســــــالکان دي [۶(۷۶م)]

په پورته بیت کې د مقام کلمه دوه معنا لرې چې لومړې یې د (څوکی) په معنا او دوم یې د (رتبه) په معنا دي؛ نو دواړه نومونه دي مستوفي تجنیس یې بولو.

چې طلب لري طلـــب کا

په مقصود پسې پویان دی [۶(۷۶م)]

په پورته بیت کې د (طلب) کلمې دوه ځله راغلي دي او دواړه نومونه وي او مستوفي تجنیس دي.

دا سرخي چې ته په سرو ګلو کې وينې

فکر وکړه دي د چـــا د ځيګر وينې [۱۰(۸۵م)]

په پورته بيت کې وينې دوه ځله راغلي دي، چې لومړی وينې يې لېدل او دوهم وينې يې خون معنا لري؛ نو مستوفي تجنيس بلل کېږي.

قراري مې خواه ناخواه ورپسې ولاړشه

دلارام مـــې ولارام لـــــره رهـــبر کــــړ [۶ (۹۴م)]

په پورته بيت کې دلارام کلمې دوه ځله راغلې دې چې لومړی دلارام نوم دی او د (آرام ګرفتن) په معنادې او دوهم دلارام د ځای نوم دی چې يو يې نوم او بل يې فعل دی نو مستوفاء تجنيس دې.

د فرمان په خوايې سر پښې چلېږي

ګرچه سريې د علم په څير قلم شي [۶(۲۲۴م)]

په پورته بيت کې قلم دوه ځله راغلی دی چې لومړی قلم نوم او دوهم قلم فعل دی نو چې دي ته مستوفي تجنيس وايې.

ددیدن سايل ديار په در ور درومي

سپی شي نيسي وسايل ته در رقيب [۶(۳۵م)]

په پورته بيت کې در دوه ځله راغلي دي چې لومړی دريې دروازه او دوهم در يې ضمير سمتی دي نو مستوفي تجنيس يئ بولی.

تل چه ستاپه کوی کښې ددیدن ساحل آواز که

وکـــــاړه پنبـــه لــــه غوږو غوږ باســـه ودرتـه [۶ (۵۰م)]

په پورته بيت کې (غوږ) دوځله راغلې دې چې لومړی غوږ نوم او (ګوش) په مانا دی داچې يو کلمه فعل او بل نوم دی نو مستوفي تام تجنيس يې بولو.

کاروبار پهاشارت سره په کار دی

نه په جنګ په کوتکونـــو د ډمبر [۶(۹۰م)]

په دغه پورته بيت کې د کار کلمې دوه ځله راغلې دې چې لومړی کار نوم او د (وظيفه او شغل) په مانا دي او دوهم کار د (عمل کول) په معنا ده نومستوفي تجنيس دي.

داسرخي چې ته په سرو ګلوکې وينې
فکــر وکـــړه دي د چـا د ځيګروينې [۱۰ (۸۵م)]

په پورته بيت کې د (وينې) دوه ځله راغلی دی، لومړۍ (وينې) د ليدو په معنی او دوهم (وينې) د خون په معنی کارول شوی دی دا چې لومړۍ (وينې) فعل او دوم نوم دی نو ځکه يې مستوفاء تجنيس بولي.

**۲- ناقص تجنيس:**

که متجانسو کلمو په حرکاتو او سکناتو کې توپيروي ناقص تجنيس يې بولي؛ لکه دابيت چې دولت لوانيويلی دئ:

درست ظاهر باطن به واړه د يو ګل ګورې
که بلبل غوندې عاشق شي پر پاک ګل ته [۶ (۴۵۳م)]

په پورته بيت کې د (ګل او ګل) د کلماتو په حرکاتو کې توپير موجود دی؛ نو ناقص تجنيس يې بولو.

لا تــــــوره کړه تر ملا
جنګ له نفسه کړه ملا [۶(۴۲۴م)]

په پورته بيت کې د (ملا او ملا) د کلماتو کې توپير په حرکاتو او سکناتوکې موجود دي؛ نو ناقص تجنيس ورته وايو.

مينه مينه خو څه مېنه نه ده
چې شوله ړنګه نوو دانه به شي [۱۰ (۸۶م)]

په پورته بيت د (مينه) کلمه درې ځله راغلی دی، لومړۍ مينه د (عاشق)، دويمه مينه د (محبت) او دريمه مېنه د (کور) په معنی راغلې ده او درې واړو کلمو تلفظ يوله بله توپير لري. نو ځکه يې ناقص تجنيس يې بولي.

تـــا چې وکړه ښه وينــا راته پستــه
زه دې ځارشم تر داخوله لکه پسته [۱۰ (۸۶م)]

ناقص تجنیس د (پسته او پسته) په کلمو کې پېش شوی دی لومړی (پسته) د (پ) په زور د (نرم) په معنی او دیمه (پسته) د (پ) په زېر د خوراکي څيز، چې له چایو سره اویا یوازي خوړل کېږي.

### ۳- زاید تجنیس:

هغه تجنیس ته وایي چي له متجانسو کلمو څخه په یوې کې یو توری زیات راغلی وي.

زاید تجنیس په درې ډوله دی:

الف: مزید تجنیس. ب: منځوال تجنیس. ج: مذیل تجنیس.

**الف: مزید تجنیس:**

مزید تجنیس: هغه تجنیس ده چې له متجانسو کلمو څخه په یوه کې یو توری په سرکې زیات راغلی وي؛

لکه: دا بیت چې دولت لواني ویلي دي:

د دلبرو پاک جمال ته نظر تـــل لره

خدای بیناسترګې درکړي دي کتل لره[۶ (۲۸۲)]

په پورته بیت کې د تل او کتل په کلمو کې یو تورې په سرکې زیات راغی دی. او لومړی مطلب د (همیشه) په مانا او دوم کتل د (لېدل) په مانا دی او دا، چې دواړه دوه بیل مانا لرې؛ نو مزید زاید تجنیس یې بولو.

یا اله العالمین پـــــر مـــا کرم کړه

له ګناه مې د طاعت په لورې خم کړه [۶ (۱۶۱م)]

په پورته بیت کې کرم او خم دوه معنا لرونکې کلمې دې، چې د یو په سرکې یو تورې زیات دی؛ نو مزید زاید تجنیس یې بولو.

حاضر ناظر یو حق دی

له استاده دا سبق دی [۶ (۵۰۶م)]

دغه پورته بیت مزید زاید تجنیس دي ځکه چې د (حق) او (سبق) په کلمو کې یو توری د یو په سرکې زیات راغلی دی.

د اشنا په لور به تله ونه شي په دا پښې

د طلـــب لایقې وغـــــواړه جـدا پښې [۶ (۳۹۸م)]

په پورته بیت کې مزید زاید د (دا) او (جدا) په کلمو کې شته او هغه د(ج) توری دی، چې په لومړۍ کلمه کې نه دی راغلی.

چې مین شوو د خوبانو په مخونه

هغووسوه پــه آتش د صبر خونــه [۶(۱۶۴م)]

په پورته بیت کې د (مخونه او خونه) کلمو دیوي په سرکې یو تورې زیات راغلی دی نو مزید تجنیس یې بولو.

ښه مین به دې په قبــرکې مــل نه شي

که دې نه وي خپل ایمان د عمل ملونه [۲(۱۶۵م)]

په پورته بیت کې د (مل او عمل) کلمو د ترمنځ او سر موجوودی چې دیوی په سرکې یو توری زیات راغلی دې نو مزید تجنیس یې بولو.

چې زما په غم غمجن وي بې حسابه

بــل د یار پــه څېرونه لید مهربان ما [۶ (۳م)]

دغه پورته بیت مزید زاید تجنیس دي ځکه چې د (ما) او (زما) په کلمو کې یو توری د یو په سرکې زیات راغلی دی.

تجربه کره دلبران د هر دیارمــا

یو ونه لېده په څېردهغه یار ما [۶(۱۶م)]

دغه پورته بیت هم مزید تجنیس دي ځکه چې د (دیاراو یار) په کلمو کې یو تورې د یو په سرکې زیات راغلي دي.

په هر چا چه ستا د مهرنظر وشي

که مملوک وي بختور شي ترمولا [۶(۱۶م)]

په پورته بیت کې مزید زاید د (وشي) او (شي) په کلمو کې شته او هغه د(و) توري ده چې په لومړۍ کلمه کې زیاتی راغلي دي.

په اووم آسمان زحل و

زحل حل کــړه مدعـــا [۶ (۲۲م)]

په پورته بیت زحل او حل دوه بیل بیل معنا لری د یوې کلمې په سرکې یو توری زیات راغلی دی نو مزید زاید تجنیس دی.

سم به نه شي د رقیب دعاشق بلیس

لـــه آدم ســره کـــاروان و دابلیـــس [۶ (۱۰۷م)]

په پورته بیت کې د (بلس، ابلیس) په کلموکې مذید زاید دی ځکه چې د یوی په سرکې یو توری زیات راغلی دی نو مذید زاید یې بولی.

**ج: مزیل تجنیس:**

که له متجانسو کلمو څخه دیوې په پای کې یو توری زیات راغلی وي مزیل تجنیس یې بولې؛ لکه: دولت لوانی چې وایې:

په یو خال چي یو په لس شي عجب نه دی

کــه په دوه خاله شمـــیره شي لس په صد [۶ (۷۰م)]

په دا پورته بیت کې د خال او خاله تر منځ یو توری په پای کې زیات راغلی دی نو مزیل تجنیس یې بولې.

دا دنیا په مثال پول د گزرگاه دی

عاقلان په پوله کله کاندي خواب [۲ (۳۱م)]

په دابیت کې د پول او پوله تر منځ یو توری په پای کې زیات راغلی دی نو مزیل تجنیس یې بولې.

شنه خالونه یې دانې د تسبیحت دي

د محبـــوب زلفې رشته دي د تسبیح [۲ (۷۱م)]

په دابیت کې د تسبیحت او تسبیح په اخرکې یو توری زیاد راغلی دی نو مزیل تجنیس یې بولې.

شنه خالونه یې دانې د تسبیحت دي

د محبـــوب زلفې رشته دي د تسبیح [۶ (۷۱م)]

په دابیت کې د تسبیحت او تسبیح په اخرکې یو توری زیاد راغلی دی نو مزیل تجنیس یې بولو.

دغه چه یې د حیات په اوبو پــوردی

له دغو اوبویې حی دی چه چا بیاموند [۶(۶۸م)]

دغه پورته بیت مزیل زیاد دي خکه چې د (چه او چا) په کلمو کې یو تورې د (ه) په آخر کې زیات راغلی دی نو مزیل تجنیس یې بولو.

څرنګ به یونس په داعلم کښې شهره نه شي

کښری یې مــذکور په هر طرف د شهر جهـــر [۶ (۵۷م)]

دغه پورته بیت مزیل زاید دي ځکه چې د (شهره او شهر) په اخر کی د (ه) توری زیات راغلي دی.

په هجران هسې جګر مومي ګداز

لکه موم په اور د نمر مومي ګداز [۶ (۱۰۴م)]

په پورته بیت کې د (موم او مومي) په کلمو کې یو تورې دیوي په اخر کې زیات راغلی دی نو مزیل تجنیس یې بولي.

د څښتن اسم فایض البرکات دی

پرې به سرکړم د امید سود وسودا [۶ (۱م)]

په پورته بیت کې د (سود او سودا) په کلمو کې د یوی په اخر کې د (الف) توری زیات راغلی دی نو مزیل تجنیس یې بولو.

**۴- مرکب تجنیس:**

هغه تجنیس ته وایې چې له متجانسو څخه یو بسیط او بل مرکب وی.

مرکب تجنیس په درې ډوله دی.

الف: متشابه مرکب:

ب: مفروق مرکب:

ج: مرفو مرکب:

د مرکب تجنیس مثال:

ښه جلوه زما د یار ده

چې ښکاره په هر دیار ده [۶ (۲۵۴م)]

په پورته بیت کې دیار دوه ځله راغلي دی، چې لومړنۍ یې نوم مانا لري او دوهم دیار یې د ځای په مانا ده؛ نو متشابه مرکب تجنیس یې بولو.

مسلمان په دعاځان له شره ژغوری

خواه ناخواه په هغه پیري شر رقیب [۲ (۳۵م)]

دغه بیت مرکب تجنیس دی ځکه چې د (خواه) او (ناخواه) کلمو یو بسیط او بل یې مرکب دې.

**الف: متشابه مرکب تجنیس:**

هغه تجنیس دی چې متجانسین په لیکلو کې سره یو شان وي اما یوه کلمه بسیط او بله مرکبه وي؛

لکه دابیت چې دولت لواني ویلي دي:

ښه جلوه زما د یار ده

چې ښکاره په هر دیار ده [۶ (۲۵۴م)]

په پورته بیت کې دیار دوه ځله راغلي دی، چې لومړنۍ یې نوم مانا لري او دوهم دیار یې د ځای په مانا ده؛ نو متشابه مرکب تجنیس یې بولو.

فراق په ما خوری د ځیگروینی

آشنا مې نشته الله مې وینی [۱۰ (۸۷م)]

په پورته بیت کې د (وینې) په کلمو کې متشابه مرکبی تجنیس راغلی دی چې په یو ځای کې وینی د خون په معنا او په دوهمه کط (وینی) د دیدن په معنی راغلی دی.

ستا وصال لکه دریاب دی زه ماهی

په هجران دې هرزمان دی په ماهی [۱۰ (۸۷م)]

په پورته بیت کی لومړې ماهی د (کب) په معنا چې بسیط کلمه ده او دوهم (ماهی) د (ما) په معنا ده د مفرد متکلم اوښتی نومځړی دی (هی) دغم شور او غوغا په مانا دي.

**ب: مفروق مرکب تجنیس:**

هغه مرکب تجنیس ته ویل کېږی، چې متجانسی کلمې یو تر بله په لیکلو کې توپیر سره ولري،

لکه دا بیت ، چې دولت لواني ویلي دي:

څه د خدای ملکونه په تنگ ورباندی نه دی
د پتنـــگ که ســـوی د نار نـــه وی غـــرض [۶(۱۱۸م)]

دغه پورته بیت مفروق مرکب دي ځکه چې د پتنگ کلمې دوه ځله راغلي دي چې په لیکلو کې یو دبل سره تو پېرلری.

کله به که غوږ د مؤذن و قد قــامت ته
څوک چه په فریاد وی له هغه قدو قامت [۲(۴۴م)]

دغه پورته بیت مفروق مرکب دي ځکه چې د قدقامت کلمې دوه ځله راغلي دي چې په لیکلو کې یودبل سره توپېرلري.

چې په سترگوڅـراغ وویــنې پتنـــگ
څوونه مري له ژوندونه وي په تنگ [۱۰ (۵۶م)]

په دې بیت کې د (پتنگ) او (په تنگ) په کلمو کې مفروق مرکب تجنیس راغلی دی، چې په لیکلو کې د بسیطې او مرکبې کلمې تو پېر معلومېږي.

**ج: مرفو مرکب تجنیس:**

هغه مرکب تجنیس دی چې متجانسو کلمو څخه دیوې په سرکې دوه یا درې توری زیاتي راغلي وي؛

لکه دا بیت، چې دولت لواني ویلي دي:

چې له دې فاني دنیا شېرین اشما ولاړ
فراغـت چېرې، هوس ارام له مـا ولاړ [۶(۲۹۸م)]

دغه پورته بیت مرفو مرکب دی ځکه چی د اشما کلمی په سرکی د (ما) په توپیر له دوه توری زیات دی نومرفومرکب تجنیس بلل کېږي.

د ببحد هستي و تــا و تــه نزديکه

تا په زوره نعره څه لره کړې ديکه [۶ (۳۴۴م)]

په دغه بيت کې د نزديکه او ديکه په کلمو کې مرفوع مرکب دادی، چې د (نزديکه) په کلمو کې دوه توري زيات راغلي دي.

زه ګاه روح ګاه پــــه بشر شم

چېرې خير شم چېرې شر شم [۶ (۳۶۱م)]

په دې بيت مرفوع مرکب په شر او بشر کلمو کې دی. ځکه چې د (بشر) په کلمه کې يو توری زيات راغلب دی.

سر زما سر کوزي نه مني د تاج

ګنه تاج زما و سر ته دی محتاج [۱۰(۹۳م)]

دغه بيت مرفوع مرکب دی ځکه چې د تاج او محتاج په کلمو کې دوه توري په دوهم کلمه کې زيات دي.

شيطانان ځينی راضي، فرښتې ناراضې

په شــوم پورې دی د خــدای د رحم در [۲ (۸۷م)]

په پورته بيت کې ناراضې کلمې د راضې کلمې څخه دوه ټورې زيات لري نومرفو مرکب تجنيس يې بولي.

په زيات يې د نامرادو مــراد پوره شـــي

چه په تيغ [دستا] دستار مينې وي کشته [۶ (۱۸۱م)]

په دغه پورته بيت کې نامراد او مراد کلمو مرفومرکب دی ځکه چې په لومړې کلمه کې دوه توري زيات راغلي دي.

هله پس به يې دمهر په سايه شي

که هستي يې ددلبر و سرسايه کړه [۶(۹۵م)]

دغه پورته بيت مرفو مرکب دی ځکه چې د سرسايه کلمې په سرکې د سايه کلمې په ښت دوه تورې زيات راغلي دې نومرفومرکب تجنيس دی.

### ۵- مکرر تجنیس:

هغه تجنیس ته وایې چې متجانیس دبیت یا سجع په پای کې پرله پسې راشي. مکرر یا مزویج تجنیس یې بولي.

لکه دابیت چې دولت لواني ویلي دي:

تر سړي هیڅ مخلوق نه که معتبر رب

په همه عالم کې که انسان اکبر رب [۶ (۴۴۱م)]

په پورته بیت کې د (معتبر رب او اکبر رب) کلمو پرله پسې راغلي دي نو مکرر تجنیس یې بولو.

مدام ذکر کړه یارب رب

دی تر تــا و تا اقرب رب [۶ (۴۳۸م)]

دغه پورته بیت مکرر تجنیس دي ځکه چې (یارب رب او اقرب رب) کلمو مکرر راغلي دي.

چې په زړه څه اندېښنه کا پرې پوهېږي

د هر چـــا له نیته دی تحقیق خبر رب [۶(۴۴۱م)]

په پورته بیت کې (خبر، رب) پرله پسې راغلي دي نو مکرر تجنیس یی بولي.

روښان تـــاج د کرامت یې ور په سر که

د جن انس خلیـــــفه که پیغمبـــــر رب

له خورشید تابان څراغ یې ور په لاس که

د جهـــــان د ګمراهـــانو که رهبـــر رب

ښه نـــــافه د هدایـــت یې پرې عطا کړ

خوشبويي یې زیـــاته کړه تر مشک عنبر رب

تر همه حـــورو پـــرې یې ښـــایسته که

د رښتینـــو عـــاشقـــانـــو که دلبر رب

د بزرګی ګوی یې یـــــوووړ لـــدار خـــلـــق

هیـــڅ ولي نبـي یې نـــــکه بـــرابـــر رب [۶(۴۴۲م)]

په پورته مثالوکې رب، ته پر لپسې راغلي دي نو مکرر تجنیس یې بولی.

څــه وېسا پــه دور فلـــک ذر راوړه شــراب راب
سترګي څوپه سترګوکښېږدی ملک به که خراب راب
جـــام دميـــوزر راوړه مجلـــس لـــره ســـاقي قي
سوي دخمـــار دلــمبو واړه کـــړه سيـــراب راب
نورکله به سيل دګلونـــو کـــه بلبـــل ...... بـــل
دو واژګونه شه په ګلـــزار ګرځـــی غـــراب راب
پاک راڅه دعشق پـه طهـارت کـړه اقتـــدا دا
خال يـې امامـــت که دابـــروی د محـــراب راب
مه غولېږه هرګـــز د ګمانـــو پـــه اوبـــو بـــو
غول بيابـــان بـــه دي غلط که پـــه ســـراب راب
مه شه پـه جفاوبـه آزار ســـره سنګـــدل ..... دل
خوښ کـــړه عاجـــزي شکستـــګي له تـــراب راب
ډېرلامبوزن واورېـده يونس چـــه اوبـــو ډوب کـــړه
کلــه اوبـــو کانـــدي منـــځ کتنـــه د قيـــراب راب [۲(۳۹م)]

په پورته اشعاروکې مکرر تجنيس دی؛ ځکه د بيتونو په پای کی پرلپسې توګه راغلي دي.

۶- **مطرف تجنيس:** په دوه ډوله دی.

هغه تجنيس ته وايې چې متجانيسي کلمې په ږغووکې توپېرسره ولري، لکه دابيت چې دولت لواني ويلي دي:

د هر چا په در بـــــه نځي نشان مرګ
هر زنده لره به ورشي پخپل شان مرګ [۶(۴۸۰م)]

په پورته بيت کې د (نشان او شان) په ږغوونوکې تو پېرلري؛ نو مطرف تجنيس وي.

پر هر چا باندې چې خدای و که عطا
د هغـــــه لــه لاسه نــــه کېږ خطا [۶ (۴۳۳م)]

په دغه بيت کې تو پېر د (عطااو خطا) په کلمو کې ليکل کيږی؛ نو مطرف تجنيس يی بولي.

مطرف تجنيس په دوه ډوله دی:

الف: لاحق تجنیس:

ب:- مضارع تجنیس:

**الف: لاحق مطرف تجنیس:**

که د متجانسو کلمو بېل غږونه په مخرجونوکې سره لرې والی موجود وي.

لکه داشعر چې دولت لوانی ویلي دي:

ای حق بنیه حــق شناسه
خپل سر ژغوره له خناسه [۶ (۳۱۲م)]

په پورته بیت کې لاحق مطرف د (شناسه او خناسه) په کلمو کې شته نو لاحق مطرف دی.

د مومن د زړه په تخت حق دی سلطان ناست
پــه ادب څنګ ګوښــه لــرې شیــطـــان ناست [۶ (۴۴۹م)]

په پورته بیت هم لاحق مطرف د (سلطان او شیطان) په کلمو کې توپېر شته؛ نو لاحق مطرف تجنیس دی.

مرګ بیلتون په جهان څه سخته بلا شي
چې اشنــا قـــــدیمي یـــو و بله جدا شي [۶(۴۱۳م)]

په دغه پورته بیت کې بیل غږونه د (بلا او جدا) د کلمو په مخرجو نوکې شته.

یا رب مـــا لره باقي نور د ایمان را
همېشه نجات له مکره د شیطان را [۶ (۴۳۵م)]

په پورته بیت کې بېل غږونه د (ایمان او شیطان) د کلمو په مخرجونو کې شته؛ نو لاحق مطرف تجنیس یې بولو.

حــب تــل کړه له صلاح
ذوق حاصل کړه له فلاح [۶(۴۲۱م)]

په پورته بیت کې د (صلاح او سلاح) او د (ګړئ او شړئ) په کلمو کې بېل غږونه موجود دي نو لاحق مطرف تجنیس دی.

ساقي شـــه لـــه دې کاس
یو دم جام مه ږده له لاس [۶ (۴۲۲م)]

په پورته بيت کې د (کاس او لاس) په کلمو کې بېل غبرونه موجود دي؛ نو لاحق مطرف تجنيس دي.

ضال گمراه مه درومه ارضه
غاړه خــــلاصه کړه له قرضه
د ځښتـــــــــــن پېـــژنګلوي ده
په جن انس بانــــدې فرضه [۶(۴۲۲م)]

په پورته بيت کې د (قرضه او فرضه) په کلموکې بېل غبرونه په مخرجونوکې لرې والې لرې نو لاحق تجنيس دي.

يــــاري غـــواړه گداى
له حافظ ناظر خداى [۶(۴۲۴م)]

دغه پورته بيت لاحق مطرف دي ځکه چې لري والي د ( گداى او خداى) په کلماتو کې شته.
همدا شان په دي لاندى بيت کې بياوايي:

هغه کس دې وېره کاندي له پر غزه
چې يې دم په ياد کې نه ووځي تر پزه [۶(۳۰۸م)]

دغه پورته بيت هم لاحق مطرف دى ځکه چې د ( غزه او پزه) په کلمو کې لري والي موجود دي؛ نو لاحق تجنيس يې بولي.

چې بې امر د استــــاد يـاد پـــلار مور ولاړ
هغه زويه خوار عاصي شو ژر په گور ولاړ [۶(۳۰۴م)]

په پورته بيت کې د (مور او گور) په کلماتو کې لرېوالي په غبرونوکې موجود دي نو لاحق مطرف دي. لکه په دلاندي بيلګوکې:

هـــــادي خبـــر لــــــه راه
بيرون دى د نفس له چاه [۶ (۴۲۴م)]

په پورته بيت کې د (راه او چاه) په کلمو کې لرېوالي په غبرونوکې موجود دي نو لاحق مطرف دي.

واحـــد يـــو دی هم يو و

جهان هست دده په ښو و [۶ (۴۲۴م)]

پورته بيت لاحق مطرف دي ځکه چې د (يو او ښو) په کلماتوکې يوالې موجود دي.

هر سالک چې نن روان پر سمه لار شي

له گناهه تـــوبـــه وکه پرهيزگار شي [۶(۴۱۶م)]

په پورته بيت کې د ( لار او گار) په کلماتو کې توپير د غږونو په لېرېوالي که دی نو لاحق تجنيس دي.

مرگ دی بهتر له هسې عمر جـانـــان نه لري

که طلب کاندي د قربت سر و سامان نه لري [۶ (۳۹۶م)]

دغه پورته بيت لاحق مطرف دي ځکه چې توپير د ( جانان او سامان) په کلماتو کې دی.

**ب: مضارع مطرف تجنيس:**

هغه تجنيس دی چې د متجانسو کلمو بېل غږونه په مخرجونو کې سره نژدې وي؛

لکه دا شعر چې يونس خيبرويلئ دئ: بيلگې په دالاندي بيتونو کې دادي:

د عارف چې ديدن وشو تل خندان دی

بې ديـــــدنه دا جهان دده زندان دی [۶ (۳۹۳م)]

دغه پورته بيت مضارع مطرح دي؛ ځکه چې په مخرجونوکې نژديوالي د (خندان او زندان) د کلماتو په غږونه کې شته.

زړه مې خوږ له اغيـــاره دوبـــاره زخمي که يار هم

کار مې نه کېږي له لاسه ځان مې بدې شي بې کار هم [۶ (۳۶۳م)]

دغه پورته بيت مضارع مطرف تجنيس دی ځکه چې نژديوالې د (يار او کار) په کلماتو کې شته.

زه گاه روح گاه پـــه بشر شم

چېرې خير شم چېرې شر شم [۶ (۳۶۱م)]

په پورته بيت کې نېژديوالې د (بشر او شر) دکلماتو په غږونو کې شته نو مضارع مطرف دي.

د همـــت مرکب دې مـــــه لره بې تانګه
مدام جنګ له نفسه کړه د یاد په سانګه [۶(۳۴۹م)]

په پورته بیت کې په (تانګه او سانګه) په کلماتو کې نژدیوالی په غږونو کې شته نو مضارع مطرف تجنیس دي.

پــه ازل چې یې نصیب نــــه وي لــه سرګه
په کوشش به ځان څوک خلاص نه که ترګه [۶ (۳۴۸م)]

په دغه پورته بیت هم په (سرګه او ترګه) په کلماتو کې په غږونوکې نژدي والي موجود دي نو مضارع مطرف تجنیس دي.

د دیدن خوښې تر کل خواږه فایقه
دا پـایـه نــــه ده د هر خسیس لایقه [۶ (۳۳۷م)]

دغه پورته بیت مضارع مطرف تجنیس دی ځکه چې بېل غږونه په (فایقه او لایقه) په کلماتو کې شته نو مضارع تجنیس دي.

که طلب په زړه لرې له باقي ګنجه
شکایت له داد بلا مه کړه له رنجه [۶ (۲۴۱م)]

پورته بیت مضارع مطرف تجنیس دي ځکه چې د (ګنجه او رنجه) په کلمو کې توپیر په غږونو کې پراته دي، نو مضارع تجنیس یې بولو.

زه به راست نصیحت ووایم و تاته
که د زړه په غوږ فهم کړې و ماته [۶ (۲۳۲م)]

دغه پورته بیت مضارع مطرف دي ځکه چې د (تاته او ماته) په غږونو کې نژدیوالي موجود دي.

شرین یار چې ما د زړه په سترګو تل کوت
هر ساعت بـــــه مې د مینې دده ګل کوت [۶(۲۲۹م)]

دغه پورته بیت مضارع تجنیس دي ځکه چې د (تل او ګل) په کلمو کې نژدیوالي موجود دي.

شکر شکر چې نن ولیده خپل یار ما
تر دیدن یې کړې زر ځله ځار ځار ما [۶ (۱۹۱م)]

په پورته بیت هم مضارع مطرف دي ځکه چې د (یار او ځار) په کلمو کې بیل غږونه په مخرجونو کې د لری دیوالي په غږونه کې موجوددي.

اې د دین په ښایښته چارو کې لټه
د معنـا په فهم کې په صورت غټه [۶ (۵۴۹م)]

پورته بیت مضارع مطرف دي ځکه چې د (لټه او غټه) په کلمو کې بېل غږونه په مخرجونو کی سره نژدي والي لري.

نن هغه مومن تر هر سالک نېک بخت شو
چې د کوچ بـه خوا اول پاځېده سخت شو [۶ (۵۴۵م)]

په پورته بیت کې بېل غږونه د (بخت او سخت) په کلمو کې موجود دي نو مطرف تجنیس یې بولو.

**۷- خطي تجنیس:**

هغه تجنیس ته وایي چې متجانسین د شمېرله مخې سره یو او د شکل سره هم یو وي مګر په ټکو یا نقطو کي تو پیر سره ولري؛

لکه: دولت لوانی وایي:

عــــلم لــــــدن فــــــرض دی
دغه فرض په هر چا قرض دی [۶ (۵۰۷م)]

په دي بیت کې د (فرض) او (قرض) په کلمو کې توپېر په ټکوکې شته.

په اخلاص طلــبګاریو یو د جلیل دی
چې فرزند قربان پـه دا لارکې خلیل دی [۶ (۴۰۹م)]

په دغه پورته بیت کې په (جلیل) او (خلیل) په کلمو کې توپېر په ټکو کې شته نو خطي تجنیس یې بلل کېږي.

نن د حـق پېژنــدګلي پر هر چـــا فرض
که دانا یې ګردن خلاص کړه له دې قرض [۶ (۳۲۹م)]

په دغه بیت هم د (فرض) او (قرض) د کلمو په ټکو کې توپېر لري؛ نو خطی تجنیس دی.

جوړ قیامت دی په دنیا کې خو حساب او کتاب نشته

بې د غــو ښو له انسانه پـــــه دې اوربل کباب نشته [۱۰(۹۷م)]

دا بیت هم خطي تجنیس دې ځکه چې (بیا) او (پیا) کلمو په ټکو کې توپېرلرې. نو خطي تجنیس یې بولي.

تللی عمر به مې راشي که ته راشې

ګرچه نه راځي بیـاعمر د شبــاب [۲ (۳۸م)]

دغه پورته بیت خطي تجنیس دي ځکه چې توپېر د (راشي) او (راشې) کلمو په ټکو کې دي.

ستا جمال په عاشقانو سپین سبــاکه

د غافـل د شپې د هجــر سحر نشتــه [۲(۴۹م)]

په پورته بیت کې (ستا) او (سبا) په شکل او شمېرکې توپېر نه لري ولې په ټکوکې یې توپېر دی؛ نو خطي تجنیس یې بولې.

ضال ګمراه مه درومه ارضه

غاړه خـــلاصه کړه له قرضه

د څښتـــــــــن پیــژنګلوي ده

په جن انس بانـــدې فرضه [۶(۴۲۲م)]

دغه پورته بیت خطي تجنیس دې ځکه چې (فرضه او قرضه) کلمو په ټکوکې توپېر لرې.

.

## پایله

دولت لوانی د یو خارق العاده استعداد څښتن و. ده د وخت او هر ډول ستونزمنو شرایطو په زغملو سره د خپلې روښاني تحریک، ژبې او ادب لپاره ډېر زیات کارونه کړي دي، چې د روښاني دورې محدودو او مشهورو نومیالیو شاعرانو او ادیبانو څخه یو نومیالی دی، چې افغاني ادب او ژبې ته یې نه هېرېدونکی چوپړ او درن کتاب په میراث پرېښود، چې تر ډېرې مودې پورې به د ده له څېړنو او پنځونو څخه د ادب مینه وال ګټه او خوند اخلي.

خلیفه دولت لوانی د شرق هغه نوښتګر شاعر او ادیب بللای شو، چې په خپل وخت کې یې، هم په شعر او نظم کې داسې انقلاب او پاڅون را وستی، چې د کلونو کلونو بیده ماغزه یې را وخوځول او برې ته د رسېدو لاره یې ور په نښه کړه.

رښتیا هم زموږ خلک له پېړیو پېړیو را هیسې په درانه خوب ویده دي او بویه کله به له دغه درانه خوبه را ویښېږي. ښاغلي لواني ډېره هڅه کوله، چې په خپلو زړه بوږنوونکو شعرونو خلک له خوبه را ویښ کاندي او لاره ور و ښيي، چې په دې کار کې تر یوه بریده بریالی هم شو؛ خو ژوند وفا ورسره ونه کړه او په درانه خوب یې ویده کړ.

د لواني د ژوند له مطالعاتو څخه څرګنده شوه ، چې ده ته همدا علمي استعداد او وړتیا له خپلو نیکونو څخه په میراث پاتې شوې وه. خو ده دا استعداد دومره ښه وځلاوه، چې ټول شرق ورته ګوته په غاښ پاتې دی؛ نو ځکه ده ته د خپلو علمي او ادبي پنځونو او لیاقت له په ځانګړي توګه د شعر عروضي سیستم له مخې د شرق نوښتګر ویل کېږي.

لوانی په هېواد کې د ننه د یو ښه او فاضل استاد په توګه د ټولو روښانیانو لپاره یوه بېلګه او نمونه وه. ده په اشعارو د نوو فورمونو منځ ته راوړلي و. او د ده همدغه مواد د روښانیانو د دورې لپاره ګټور مواد و.لوانی په دغه وخت کې پارسي ژبه هم زده کړې وه او اردو ژبه یې د لیکلو او لوستلو تر بریده رسولې وه. بیایې عربي ته ملا وتړله او ډېرې ژبارې له همدغې ژبې څخه کړې دي.

دلته موږ ته د دولت لواني استعداد او ځیراکت ښه معلومېږي، چې په ډېره نوې ځوانی کې یې عربي، اردو او پارسي ژبې زده کړې وې او په هغو کې د پوره مطالعې خاوند و.

دولت لوانی په خپلو اشعارو کې د روښانیانو او نړۍ د هر وتلي او یاړمن کس یادونه هم کړې ده، چې دا د ده د ژورې مطالعې او لوړ استعداد ښکارندويي کوي. او ما هم په پوره زيار او کوښښ متې را ونغاړلې، چې تر څو د لوانی په ارزښتمنو اشعارو کې د بیان ادبي فنونو بدیعي ښکلاوو څخه مې تجنیس، تر کومه بریده چې لازم دي، وڅېړم او واضح يې کړم. پر دې برسېره مو د لواني د ژوند او کړنو په هکله هم اړین معلومات تر لاسه کړل او په راتلونکې کې به د هغه له ارزښتمنو آثارو څخه پوره ګټه پورته کړو.

خو په لنډو ټکو کې به ووایم، چېد پښتو ژبې هغه بلبل دی، چې د ده نوا، ناله او فریادونه به تر ډېره د پښتنو تر منځ ژوندي وي. د ده دیواننظم که په هره ژبه باندې دی، د ټولو هېوادوالو او ټولو فرهنګپالو لپاره د یوې لویې شتمنۍ حیثیت لري، او افغانان به د ده دغه ادبي میراث له هر ډول تاړاک او ضایع کېدو څخه ساتي.

## وړاندیزونه

دولت لواني د پښتو ژبې نامتو شاعر دی . دولت لواني د خپل وخت متداول علوم زده کړل او د خپل پلار د توجه له برکته عربي زده کړې هم کړې وه او سربېره پر خپل مورنی ژبې پښتو، په فارسي، اردو او عربي ژبو باندې هم ښه مسلط و. او سربېره پر دې په سانسکریت ژبه کې یې هم ښه مهارت درلود. ډېر ذهین او ذکي سړی و، د موسیقي پر فنونو پوه و، یو ښه سخنور او سخندان سړی و. نو زما غوښتنه او وړاندیز د ادب د مینه والو او هیواد والو څخه دا دي.

١. د دولت لواني په ژوند باندې نور هم څېړنه باید وشي .

٢. د دولت لواني د اشعارو د ټولو په برخه کې نور هم باید کار وشي.

٣. د دولت لواني د آثارو په ټولو برخو باندې څېړنه باید وشي.

٤. د دولت لواني د اشعارو هره برخه یې باید په نورو ژبو وژباړل شي.

٥. د دولت لواني په اشعارو کې خورا زیاتې معنوي او لفظي ښکلاوې شتون لري، زه ټولو لیکوالو ته دا وړاندیز کوم، چې د هرې ښکلا لپاره دې څېړنه وکړي، تر څو زموږ راتلوونکي نسلونه د داسې تکړه شاعرانو له مفکورو څخه خبر شي.

٦. په دې مونوګراف کې ، چې ما کله لیکنه کوله ؛ نو ما ته دا په ډاګه شول، چې د دولت لواني په اشعارو کې د بدیع علم تر څنګ بیان علم او په ډېره کچه د عروضو په وزن سره برابر اشعار لري. زه دا وړاندیز کوم، چې دیوان یې د افغانستان په ټولو ښوونځیو ته د معارف لخوا ورسول شي.

## اخځلیک


۱.بارکزی،میرزاحنان.(۱۳۸۸ل).**د میرزاحنان بارکزی دېوان**.پېښور:صحافخپرندویه موسسه.

۲. خېبری ، یونس.(۱۳۵۶ل).**دیونس دیوان**.کابل: د اطلاعاتو اوکلتور وزارت د پښتو د پرمختیا او پیاوړتیا امریت لخوا.

۳ . ختک خوشحال خان.( ۱۳۸۷ل).**دخوشحال خان ختک کلیات**. کابل: دانش خپرندویه ټولنه.

۴. شیدا، کاظم خان.( ۱۳۸۴ل) **د کاظم خان شیدا دېوان** .پېښور: دانش خپرندویه ټولنه .

۵. زیور، زیور الدین. (۱۳۹۰ل).**د پښتو ادبیاتو تاریخ منځنی دوره**.کابل: د ساپی د پښتو څېړنو او پرمختیامرکز.

۶. لوانی، دولت.( ۱۳۹۱ل). **د دولت لواني دېوان.** کابل: دانش خپرندویه ټولنه.

۷. مومند ، عبدالرحمان. (۱۳۸۴ل). **د رحمان باباکلیات.** پېښور: دانش خپرندویه ټولنه .

۸. هېوادمل ، زلمی . ( ۱۳۷۹ل) .**د پښتو ادبیاتو تاریخ**. پېښور: د دانش خپرندویه ټولنه .

۹. هاشمي، سید محی الدین. (۱۳۸۱ل). **ادب پوهنه.** پیښور: داکبر د اطلاحاتي او نشراتی منابعو مرکز.

۱۰. همکار، محمد ابراهیم. (۱۳۵۶ل). **بدیع فن او پښتو شاعري.** جلال آباد: دمومند خپرندوېي ټولنه.